# د تخت غمی

افغانی عشقی حماسی رومان (ناول)


لیکوال :

مصطفی حجب



۱۳۶۹

کابل

135
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032969 7

# دتخت غمی

افغانی عشقی حماسی رومان (ناول)

لیکوال :

مصطفی حجاب

۱۳۶۹

کابل

ACKU

# ژوند

دانیسي لطیف درانی
له خوا ږه او سپیڅلی
نامه سره
چې ژوندسي دهغی د
بیساری مهربانی
پوروړی دی

م. جهاد

داثـر نـوم: دتخت غمی
لیکوال : مصطفی جهاد
خپرونکی : دافغانستان د
لیکوالو ټولنه
تیراژ : ۲۰۰۰ ټوکه
مصحح او مهتمم : لیکوال
خطاط : حکیم فهیم
دچاپ کال : ۱۳۶۹
چاپ : (مانو تایپ) حروفی
چاپخونه : دولتی مطبعه
ACKU

# دافغانانو دقهرمانۍ واقعي بڼه

تردي عنوان لاندي مصطفی (جهاد) خپل يو (رېل) يا واقعي داستان چي په هغه کې يې ددو زړن او افغان ديوې خاصې تاريخي دورې ديوه عيار (کاکه شير) کردار د يوه (ژاند ارك) او ناجي په صفت تصوير کړی دی، ماته د کتلو او نظر ښکاره کولو دپاره راکړ، خو کله چي ما دا داستان وکوت، د داستان دکتلو په وخت کی ديوی سلسلی تداعيو سره مخامخ شوم، هغه داچي:

اول ـ دجهاد زلمی پېوزلی، سخت رنځ او دژوند بدو شرايطو ماته د فرانسوی مورخ «البرماله» دا خبره را په ياد کړه چې هغه ليکي: «دشاعرانو يو ـ اصلي صفت دا دی چې په ادبياتو کې دآثار و په تنوع

د نظم سره افسانې هم لیکي » . دده اشاره « بالزاك »
ریالست لیکوال ته ده او وایي : د « بالزاك »
شغل اول د دفتر منشیتوب بیا د مطبعې کار ګرې او
د حروف ریزی معروفیت و . ده ته ترپایه د فرانسې
په فرهنګستان کې چا غړیتوب ورنکړ او د ژوند د
وروستیو سلګیو په وخت کې یوازې « ویکتور هوګو »
ورته ناست و . خوده !

بلې ! بالزاك د فرانسې د کړو وړو په کردار کې
دنړی د نا انسان غوښتونکی وضع په هنداره کې د
«بشرکمېډی» داستان ولیکه چې یو وخت « ماکسیم ګورکی »
دروس د ملت ریالست لوی لیکوال وایي :

« ماته د لیکنې لاره بالزاك خلاصه کړه » د دې
تداعی پربنا ماته د جهاد زلمی داستان چې د « کاکه ـ
مېر » د کرد ارپه هنداره کې د افغان ملت دخرخ شوی
پاچا امیر محمد یعقوب ، چې د « کمونارې » انګریز
دښمنه کی کړی ته یې غاړه ایښې وه او د افغان په
زړه ورملت یې کیو نا ری د بالا حصار په شاهي قصر
کې ایرې کړ ، ښه څرګنده وایسوده .

دو همه تداعی : وایي په همدغه دوران کې چې

کاکه شیر ژوند کاوه، د کندهار چوڼی هم د انګریز
متجاوزو لښکرو نیولی وه، د کندهار په شاه بازار کې
«اکرم پایلوچ» (کاکه پاعیار) یوه ورځ کوڅه مغزی
اوړد. شمله، کوڅه کوڅه تیر یده، یوه پل کاکه «پایلوچ»
پرېغ کړ: چوڼی دچا په واك کی ده؟ «اکرم پایلوچ»
وویل: دو سرې میره یې چې زماسر انګریز د ښخه یو نه
سی؟ هغه وویل د رحمه! اکرم سملاوه او پښقوضه را-
وایستله. چوڼی ته یې ځان ور سا وه. دچوڼی دساتونکی
سر خوبې اول واز پرې کړ او په ور کښ شو. ساعت
ګړی وروسته یې خلاوېښت سره پرې کړه، په دې وخت
کې انګرېزی پوره غونډ راغی او د «اکرم پایلوچ»
سرېې پرې کړ، خوملګری پایلوچ یې سر و اخست د
دانګریز دهغه ځای افسر یو لك کلدا ری انعام د
«اکرم غازی» پرسر کښېښود. خو پیدا یې نکړ. نن
دهغه سر د کندهار د ښار و الی مخې ته پسه سره
ښېرغ و پاړی. خو پر تنه او بدن یې
دلوی احمد شاه بابا د مقبرې سره بل زیارت جوړ
شوی دی او دمراد خاوندان دمراد غوښتلو دپاره د
لوی احمدشاه بابا دمقبرې ترڅنګه د«اکرم غازی»(عیار)

( دری )

ACKU

زیارت له څې. دلته د تداعي جهت چېرې دی؟ وګوری!
د داستان په لمن کې د امیر یعقوب د نازولې میرمنې د
غاړکۍ الماس د «کاکه شیر» د کوچۍ محبوبې په غوښتنه
په هغې غاړکۍ کې ایښودل کېږي چې د «کېوناری» د
قصرخوا انګریزي ساتونکي سرپرې پایلي او څنګه په
شاهي قصر کې د امیر یعقوب بدن دوېرې په لړزه اخته
کېږي او د االماس دده (امیر) د میرمنې د غاړکۍ څخه
«شیرغازی» په زور کاږي او دخپلې محبوبې کوچۍ غاړکۍ
پرې ښایسته کوي ، «شیرغازی» د بالاحصار په شاهي
قصر کې د امیر محمد یعقوب انګریزي ساتونکي وژني او
امیر یعقوب ته په قهر وایي : د افغان ملت د دښمن بنده!
د اد غاړکۍ الماس ستاد میرمنې مه بوله او هغه بې نه شي
په غاړه کولای بلکه د «شیر کاکه» د محبوبې د غاړې
وړدی . داده د «اکرم غازی» «پایلوچ» او شیر کاکه
په سره اوردګډېدلو تداعی چې د افغان زورور ملت پرې
نازېږی .
د جهاد د داستان شباهت په حماسوی او ریالستیك رنګ کې:
د هومر Homer د یونان د لوی حماسه لیکونکی دوې
حماسې مشهورې دی چې یوه یې د «الیاد» په نامه ده . په
دې حماسه کې د «کاکه شیر» رول «اشیل» Achilles

لوېولی دی، څنګه ؟ وایی د«ترای» شاهزاده «پاریس» یونان ته سفروکړ او د«سپارتا» ښایسته میرمن «هیلن» یې وتښتوله . جګړه شروع شوه او «اشیل» پهلوان «هیلن» بېرته پاچاته راولی او دپاچا ناموس ګټی . مګر «کاکه شیره د«کیوناری» څخه ددې په ایرې کېدلو هغه همدېالاحصار په شاهی قصر کې دملت دنجات او قهرمانی هېروګېږی چې دملت قهرمانان لکه : محمد جان خان وردګ ، ملامشک عالم او غازی ایوب یې ملګری او مشران دی . کاکه شېر بیاد انسانانو د ښمن کیوناری ته هغه درس ورکوی چې تاریخ یې له شی هېرولای .

د داستان در یالستېکې برخې شپاهت :

د«هومر» یونانی لوی حماسه ایکونکی د «اوډیسې» حماسې سره دی چې دلرغونی یونان دمدنیت له روښانه کولوسره یوره مرسته کوی او دیونانیانو ژوند په واقعی بڼه منعکس کوی چې په دغه وجه دې اثر ته د نړی لوسړنی ریالست اثرویل شوی دی . نوکه تاسې د ځوان جهاد «دتښتغمی» داستان وګوری نو تاسې به په «۱۸۷۸» م. کال کې دافغان د قهرمان نرغل دهغه وخت دقهرمانی واقعی بڼه په دغه داستان کې

ووینی او وبه وایاست، دې رومان ته د لیکوال
توانی په خپل کار کولو کې په حقه لوړه نیجا بزه ور کړی ده.

ما د مصطفی جهاد د «د تخت غمی»
داستان بڼه په غور وکوت، د لته د وخت
واقعیت هم په ریالستیک ډول منعکسه شوی ده. او د «شیرو
کاکه» کرکټر د ظاهر پو شنجی څخه نیولی تر
«شیر و کاکه» پورې، د لته د خاص تیپ کرکټر دار
ښیی. دد استان لوی کمال هم همدا دی چې د تیپ
خصلت باید وښیی یا خو ملی ممیزه څرګنده کړی.
د «شکسپیر» دا نګلستان لوی د استان لیکونکی د
یونان د ملکې په حماقت پوهولو کې د الیزابتې
حماقت پسند نه څرګنده. د «سره ګل او سپین ګل» په
داستان کې ښیی. خو ملکه د یونان پوه لی. مګر د
جهاد د رومان په خپله امیر یعقوب او د ده ملت
خوشحاله شوی چې د تیپ او ملت رنګ پوهول په کښې مضمر
پاتل کیږی. دا داستان واقعاً په د استان دی
او لیکونکی ته یې نوردا لیکنې توفیق غواړم.

څیړنمل محمد دین ژواک
نوې سکرویان ـ ۲۲ ر ۳ ر ۶۹

## د سر څو خبري :

د کابلی کاکه ګانو او عیارانو په باب ډيري جالبي او په زړه پوري کیسي زموږ د خلکو ترمنځ موجودي دی. د دي کیسو اتلانو هر یوه له لحاظه د میړاني ، توري ، هیواد پالني ، مظلوم د وستی ، میني او سربښندني په ډګرونو کي داسي غوره کارنامي په یاد ګار پرېښي دی چي ان تر اوسه د هغو هره یوه د افغان خلکو پچموته لوی او لمړیاړه دکدرسونه ګڼل کیږی .

کاکه ګانو جالبي او ډيري په زړه پوري ځانګړ-تیاوي درلودي ، هغوی په تل ښکلي اولو کسي او کلمه هم جنګی جامي اغوستي ، راز راز وسلي به یې د ځان سره ګرځولي ، خو زیاتره به یې د هغو کسانو سره سراو کار درلوده ، چي په خپل زور او یا زرو په مغروره شوی وو او

څوښتل به یې چې خواران آزار کړي ، او په دې کار کې هومره بیړا کړه وه چې ان کله کله به یې دوخت له باچاهانو او امیرانو سره هم ډغرې وهلې . دغه شان کله به چې له وطن ، ننګ او ناموس څخه دساتنې سوال راښکاره شو ، نو کاکړګان به بیا په سیالۍ به دې لاره کې یو له بله مخکې کېدل . ځینې کاکړګانو هر یوه دځان له پاره ځینې ځانګړتیاوې هم درلودې ، څو دې سره سره داسې ښکارېده ، چې هغوی ټول د مېړانې توري ، له مظلومانو سره دخوا خوږۍ او له زوروزو سره دپنجې ور کولو درسونه یو ځای او په یوې مدرسې کې لوستي وي . هغوی که څه هم چې زیاتره نالوستي کسان وو ، خو په لوړ همت ، توري او غیرت کې یې هیچا ته هم تن نه ور کاوه او یو تر بله زیات وو .

کاکړګانو که څه هم چې له ډېرو پخوا مودو راهیسې په بېلا بېلو سیمو او په زیاته بیا په ښارونو کې ژوند کاوه ، خو په کابل ښار کې سل ، یو نیم سل کاله پخوا دهغوی بازار ښه تود و ، چې دا دی مونږ به دهغو له جملې څخه د یوه تن د توري ، مېړانې ، هیوادولۍ او مینې به

باید پوهنه روښان چې هغه ښوی تصویري او د قلم د داستان
په څېر د ښېلا ښېلو صحنو او ښېړو دیالو ګونو او رومان-
تیکي فضا، لرونکي وي، د رنو لوستونکوته په ډېره
ښېنه وړاندې کړو.

باید وویل شي چې لیکوال دا رومان نږدې ۱٦ کاله
د مخه لیکلی او د خانه سره ساتلی و، خو کله چې د هیواد
د خپلواکۍ ګټلو د اویایمې کالیزې د رانږدې کېدو له امله
د ا. ج د **لیکوالو** د ټولنې له خوا ادبي کانکور اعلان
شو، نو دا زما د علاقمندۍ سبب شو، رومان مې را واخیست
او نږدې دوه میاشتې مې پرې کار و کړ، خوشحاله چې
**کانکور** ته د آثارو د منل کېدو نېټه ډېره لنډه وه، نو
ځکه هغه **مې** په بیړه بېړۍ سره ولیکه او د ۱۳٦۸ کال
د سرطان په شلورمه یې لیکل بشپړ شول او که څه هم چې
د یوه **ښه سرلیک** په لټه کې وم، خو بیا مې هم داستان
کاندید **کړ**. چې له ښه مرغه د داورۍ د هیئت د نظر
وړ واقع شو او د پښتو ژبې لومړۍ درجه ادبي جایزه
ورکړل شوه. خو کوښښ مې وکړو چې داستان لوستلي و، د
داستان د خوښولو او ښه پلو تر څنګه یې ماته هر
څه د داستان د تجدید نظر په باب مشورې را کړي

اوڅنګه چې پخوا له مې هم آرزو درلوده، نوله دې امله رومان یو ځل بیا په بشپړه توګه تر تجدید نظر لاندې ونیول شو، او د همدې کال د سنبلې په ۲۱ د هغه د بیا لیکلو او تجدید نظر کار سرته ورسېد.

څنګه چې د دې کیسې پېښې او حوادث زیاتره د خپلواکۍ له پاره د افغان او انګلیس د دویمې ستړې او تاریخي جګړې له پېښو سره په یو وخت کې رامنځ ته شوېدي، نو هیله ده چې د هېواد د خپلواکۍ د ګټلو د اویایمې اخترورې او برتمینې کالېزې په وياړ د دې کیسې د لیکوال د یوه واړه سوغات په توګه د نظر خاوندانو ته د پاملرنې او منښې وړ وي. په درنښت

ـ م. جهاد ـ

دلوی خدای په نامه

# د بخت غشي



دکابل دپخوانی نامی چار چتـی یوښکلی انځور هغه ځای چی ددی داستان دزیاتو پیښـو شاهـدو

انځور گر: استاد کریم شاه‌خـان (۱۲۳۸ ـ۱۳٦۸ هـ.ش)

یو محل بیا د کابل د بالا حصار دد ارا لسلطنې لوې .
دروازې وتړل شوې ۴ و له دې سره سم بو محل بیا
د کابل ښار د خلکو په خوښه و نو کې د خطر زنګ
و کړنګېده .

هغوی به چې کله د بالا حصار دروازې تړل شوې
ولیدې ، نو پوه به شول چې بیا ښار او په ملک او
دولت کې څه غټه پېښه ده .

په بالاحصار کې د افغانستان دد ولت مقر ، دار-
السلطنې چې د هر پوخ او پر پرده برین دیوال ترې گرد
چار چاپېره راتاو شوی واو په اطلو برخو کې

برچونه او خاص امنیتي ترتیبات پکې په نظر کې نیول
شوي وو، په ختیځې، لویدیځې او شمالي خوا وو
کې یې درې دروازې درلودې، چې ډېرې لویې او لوړې وې
او هره یوه یې سره دده چې د وسپنې، زېړو،
او ان مسو په ګل میخونو، میخونو او لویو وړو
ځنځیرونو ښکلې شوې وې، له امنیتي نظره هم په
هغو کې خاص ترتیبات موجود وو.

داد بالاحصار دارالسلطنې ته د تللو راتللو دروازې
په عادي حالت کې خلاصې وې، او سره د دې چې
سپاهیانو به یې تر سخې پېره کوله، بیګر خلک به په
عادي توګه د خپلو چارو او کارونو له پاره په زړه-
وره توګه ورتلل او راتلل.

- خو کله به چې ناڅاپه د بالاحصار د دارالسلطنې دا
لویې دروازې وتړل شوې، د زیاتره خلکو ورتګ
به منع شي، یوازې څو تنه سپاهیان به د دې لو ري
شو یو دروازو تر مخې ولاړ وو او په بشپړو احضاراتو
هره شېبه یې پېره او ګزمه کوله، په داسې حالت کې
به هېڅوک هم د بالاحصار خوا ته زړه ور نشو ور تللی.

پیره دار انو به تول راغلی کسان له دروازې څخه ډیر لرې درول اوان درسمی او ضروری کارونو د سرته رسولو له پاره به بې هم بالا حصار ته د ورتللو لپاره هغوی ته اجازه نه ورکوله. البته هغه شهیر کسان چې دربار ته ور ته اجازه کړی وه، له دې امره مستثناء وو.

او داسې د بالا حصار ددروازو پورې کسیدل، په ملك او دولت کې د بحرانی او اضطراری حالت نښه وه. هغه نښه چې د کابل خلك بې په راز پوهیدل. څوچې په رښتیاهم بیا بله ورځ به پیښه روښانه او معلومه شوه. د کابل خلکو به د بالا حصار د دروازو په تړل کیدو سره دیو ډول بحران او بې امنی احساس کاوه او څوچې به اصلی خبره اوحقیقت ورته معلومیده، څورا زیات به خواشینی او پریشانه وو.

د بالا حصار ددارالسلطنې دروازې پو محل تړل شوې شل شپې مخکې هم یونا څاپه یو دوه ورځې وتړل شوې د کابل ښار د خلکو زړونه بیا په تراره شول، څوچې دوه ورځې پس د ښار خلك خبر شول چې امیر صاحب شیر علی خان

په مزارشریف کې په حق رسیدلی اوله مکنو تشریفاتو سره سم په خاوروسپارل شوی او دادی دهغه دهر ۱
زوی سردار یعقوب چې نژدې اته کاله اوان دهلار تر هرپنې دبالا حصار په خاصي بند یخانې کې بندي سو ، ددولت دمشرانو ، واکمنو او وزیرانو له خوادامیر
پر ځای پر تخت کینول شوی او دهغه دامارت او پاچاهی اعلام شوېدی ، دکابل ښارخلکو ، که څه هم چې ددې خبر په اوریدو سره متاثره شول او د امیر -
صاحب دوفاتېدو په مراسمو کې یې برخه واخسته، خو داسې ښکاریده چې دامیر یعقوب خان پهواکمن کیدو
ډېر زیات خوښ دی. هغوی په په خولو کې سره ویلې چې اته کلن بند یعقوب له یعقوب خان څخه یو ډېر ضعیف
الاراده ، یې وا که او ویر ندو کی ،ځان ساتی سړی جوړ کړی دی ، نو په داسې حال کې چې پر نګیانو
یو ځل بیا زموږ وطن ته سترگې سرې کړیدی او خپلو پوځی سوقیا تو ته دهواوپه اوږدو کې زموږ پر خاو رې
او خلکو باندې ډېر غل او تیری کولو ته دچمتو کیدو له پاره دوام ور کوی ، نشی کولی دافغان خلکو
مشر ی په غاړه واخلی .

هغوی په رښتیا هم بیعه سم فکر کړی و، ځکه یوازې د څولنډو ورځو له تیریدو وروسته خلک پدې تریخه حقیقت خبر شول چې نوی امیر یو انګریزی هیئات په لاسه ملی او د یوې لوز نامې د لاسلیک کولو په رابـ ـې ورسره خبرې کړېدی او چې څو ورځې وروسته دالوز- نامه دامیر او دانګریزانو دا ستازی تر منځ د ګندمک په سیمه کې، دخلکو له نظره لوځه ګوښی او له هغوی پټه لاسلیک شوه، نود کابل ښار خلک پدی پوره داده شول چې امیر خان د پرنګیا نو په لمنې کې ورواچاوه. ددې لوز نامې له مخې نه یوازې دافغانستان دختیځې خوا د خاورې یوه لویه برخه دهغه له وجود څخه بیله او په برېتانوی هندپورې وتړل شوه، بلکه د پرنګیانو واکمن استازی په کابل او د ملک په ځینو نورو لویو ښارو نو کې ومنل شول.

امیر یعقوب خان دا سې ګڼلې وه چې له انګریزانو سره به دده دا ډول ښکې راز له خلکو څخه پټ پاتې شي او له بل پلوه به دی هم د خپلی وا کمنۍ د ټینګښت

له پاره د ړاړ وړ تکیه ځای پیدا کړی شوی نه ، هغه
بدې نه یو هیله چې له خلکو څخه هیڅ شی هم پټ نشی
پاته کیدی . نو هغه وچې پدې باب هنګامې خولې په
خولې ډیر ژر د خلکو تر منځ تو دې شوې او ډیر ژر
دملک په ګوټ ګوټ کې ټول خلک پرې خبر شول .
هغوی سره ددې چې خولې هیلې يې پرنګیانو ته له ځان
سپارلی امیر څخه بیخی پرې کړې، پدې فکر کې شول
چې له دې حملې گر دښمن او تیري ګو نګی غلوم سره
چې که څه هم يو وار بیخوا په ګور مخ له دې سیمې ځای
خاورې څخه په تېښته شړل شوی او ایستل شوی و ،
خو دادی بیا یې هم په زیاتې سپین ستر ګی او بې شرمی
سره زموږ دخاورې پاملوالو دخپلې واکمنی دټینګښت
بوچ تکل کړیدی څه وکړی ؟

دا آوازې او هنګامې لکه تو ده سا د تول ښار
په خلکو کې چلیدې ، د هغوی ملي او د پالونکو احسا -
ساتو ته يې اور اچاوه ، ولسه يې ورته په جوش او ستې
را وسته له اودې ته يې چمتو کول چې له پرنګیانو سره
د مقابلې او دغرو ورځلوله پاره یو حل پیدا نه ته

راودانګی . خو داد ی په دې سلسله کې یو محل پیاد
بالا حصار ددروازو تېرل کېدو د خلکو په زړو نو کې
لوېې او پار وو نکې اند یښنې را و یښې کړ ی . که
څه هم چې هغوی تردیر وېورې پدې سم نه پو هیدل چې
بیا به څه چل وی ، خو زیا تره خلکودا ګو مان کاوه
چې هرڅه چې وی نوله پرنګیانو سره به دامیر یعقوب
خان له سودا بازیو څخه واو لاړ ی شوی پېښې وی .
پدې څوور څوکې څېنو خلکو دبالا حصار په دروازو ـ
کې یو نیم پرنګی سپاهی هم لیدلی واو په دې وجه دکابل
دخلکو ترمنځ دا ګرمې آوازې په حقیقت بدلې دې چې
د « کیو ناری » په نا مه یو پرنګی ( چې ور وسته بیا
افغانانو له ډیرې کر کې هغه د « کمناری » په نا مه
یا داوه ) د پرنګی دولت دوا کمن استا زی په تو که
کابل ته را غلی اوله امیر سره دامتو ګنی په غو ره
کولو سره غواړی یوځل بیا استعما ری پلا نونه زموږ
په هیواد کې عملی کړ ی .

خود کابل خلکو ، دوطن ساتنې دې بیا کوا تلانو ـ
لا ... یا ت زغم او حوصله درلوده ، لکه چې غو ... اړی

لومړی تر هر څه په ټولو ښځو او حقايقو څه سرونه خلاص کړی او بيا نوله برخالګرو برنګيانو سره د ښکا- ملي او د افغانانو د هيواد پالنې د رسونه څخوی تهد بيا ور ياد ولوله پاره دخپلو ملی مشرانو او سپين ږيرو له رأيې سره سم د اساسی او وړچارې له پاره لاس په کار شی .

خو سره د دې هم لاد کابل په ښار او بازاراوښا ـ وخوا سيمو کې لکه د تېر پانځه د سختګې ګراری په عمر آرامی حاکمه وه . د کابل خلکو په عادی توګه خپل کار ، ژوند او ورځينی چارې پرمخ بيولې .

خود کابل ښار په هغو وختونو کې اوسنی ښځه او سازو ـ سامان نه درلوده او د ننني تمدن هيڅ نښه هم پکې نه ليدل کيده . ښار زياتره د بالا حصار په شا و خوا او په تيره بيا د هغه په شمال او ختيځ خوا و وکې موقعيت درلوده چې څو لويو لارو او سړکونو چې ځينې يې په تيږو فرش شوی و ، د کابل ښار په بېلا ـ بېلو برخو ويشه ، چې کله نا کله به په هغو باندې کومه ښکلې او خيال بګی به شرنګهار سره تېريدله ، خانانو او اشرافو ښکلی آسونه او ان پيلان درلودل ، خو خوارانو به پکې پلې مزلونه کول .

د هغه راز زیات شمېر ښکلې ، فراخې او دنګې کلاګانې او کورونه ، لوی لوی بازارونه ، جوماتونه ، میله ځایونه ، او تفریح ځایونه ، دولتي ودانۍ او عسکري چهاونۍ په ښار کې آبادې وې . کورونو او کلاګانو زیاتره لویې لویې دروازې درلودې ، چې ځینې وختونه به ان فیلان هم له باره سره پر هغو ننوتل .

د ښار په نورو شاوخوا سیمو کې ای شمېره معموري کروندې او ښکلي لوی او واړه باغونه وو ، چې د کابل سیند لکه د یوه ابرېښمار په څېر د هغو تر منځه غزېدلی و . خلکو په ډېرو ښکلو ځایونو کې د هندونو د تړلو له لارې د سیند اوبه کرځولي وې او خپلې ځمکې ، باغونه او کروندې به یې پرې خړوبولې .

او په هغو وختونو کې دا شان هر څه ښه دول او ښه رنګه و ، مګر ښکلی کابل ، د ادخهالي ځوانانو زانګو او تاتوبی هغه وخت هم خورا ښکلی او په زړه پورې و . څو لوی او مشهوره بازارونه یې درلودل ، چې په هغو کې د خلکو د اړتیاوړ موادو زیات شمېر دوکانونه موجود وو . د کابل مشهورې چارچتې هغه وخت د یوه ډېر لوی او عمده بازار حیثیت درلوده . له دې څلورو

چتو شخه چې زیاتره سرپوښلی وی ، یوه چته هم چې د پایان چوك څخه دیوې او پردې کوڅې په توګه تر کاه فروشی پورې غزیدلې وه ، د پایان چوك د چتې او یا هم د زرګری د چتې په نامه یادیده چې په دواړو خواوو کې یې په ښتیا هم د زرګری زیات شمېر دوکانونه و ، خو دوه درې د قنادی دوکانونه ، یو سماوات او د کبابی دوکان او په آخر سر کې هم یو جومات او درې څلور د خامتا باولو دوکانونه وو . او پردې چته کې یو هم د زرګری هغه دوکان و چې د کابل په خلکو او ان د لرې سیمو او اطرافو په خلکو او کوچیانو کې یې زیات شهرت درلوده .

دا په اصل کې پخوا دیوه ډیر متقی او نیك خویه زرګر دوکان و ، چې ویل کیده چه شتمن او خاندانی زرګر دی . خلکو به حاجې زبردست خان باله او په ډیر ویاړ او درنښت سره به یې د هغه نوم یاداوه او زیات د ... اوی یې ... اوه . خوښخپله حاجی زبردست خان څو کاله پخوا مړ شوی و او اوس د دکان ټول واك او اختیار د هغه د یوازینی زوی په لاس کې و . د هغه اصلی نوم شیر عالم و . خو په تنکی ځوانی کې خلکو د ک ...

زرګر بچه ، بیا د کاکه شېراو کاکه زرګرا و بیا
په وروسته کلونو کې د کاکه غازي په نامه هم یاداوه
او دهغوی ترمنځ يې زيات شهرت او محبوبيت درلوده .
هغه د کابل د نامتو کاکه ګانو په جمله کې د خلکو
ترمنځ په میړانې ، تورې ، سخاوت ، ښندنې ، وطن
دوستی، خرابات او مناجات کې ښه شهرت او اعتباري نوم
ګټلی و . شېر له اصله دهغه تره سمندر خان له کاکه-
ګانو او عیارانو او دهغوی له ډلو او مجلسونو سره
روږدی کړی و .

سمندرخان چې پخپله يې هم اولاد نه درلوده نو خپل یوازینی
وراره شېر عالم ته يې ډېر زيات پرې ګران و .
داسې چې په ماشوم توب کې يې یوه شېبه هم پر
ځمکې کېښنودته نه پرېښوده ، خو چې کله لو
را لوی شو او سترګې يې په ښو او بدو یو څه
خلاصې شوې ، نو سمندر خان به هغه زیاتره دځان
سره ګرځاوه . پدې ډول ورو ، ورو د کا-
بل له کاکه ګانو او عیارانو سره دشېر آشنايي
ټینګه او ناسته ولاړه زیاته شوه او دهغوی سره

پېړۍ واخیسته او لکه د نورو کاکه ګانو په
شان ده هم د خیراتو، مېړانې، زړه سوی او
ځوانۍ لاره پر مخ ونیوه او څو چې يې تره ممندر
خان دوی اوږدې ناروغۍ څخه پس له ژونده
سترګې پټې کړې، نو له ښار عالم څخه هم هغه
کاکه شېرجونړ شوی وو چې هیچا يې شا پر ځمکه نه وه
لګولې او ان د کاکه ګانو سرغنه ګڼل کېده.
داده پر کلونه کېدل چې کاکه شېر د کابل له
ځوانانو او کاکه ګانو سره قدم واهه او د
هغوی له ډلو سره یو ځای شوی و. د ځوانانو
داسې بزم او مجلس به نه وو چې هلته دي کاکه شېر پر سر
نه وی ناست. هغه له کاکه ګانو څخه د ر ادسردی
ځوان دوستی او ځوانی کولو، تواضع، مېړانې
مناجات او خیراتو او هېواد پالنې لوړ درسونه
اخیستی و، دومره چې شېر د کابل د خپل لور ځو-
انانو او نورو کاکه ګانو ترمنځ په مېړانې
ځوانۍ او ځوان دوستۍ، سخاوتمندۍ او په ملګرو
ځوانانو او بېوزلو او مستحقو خلکو باندې يې په

خرابات او زیات خرڅ شي و لو کې لوی نوم
درلوده او له هغه ځایه په دې څو کلونو کې
چې د کاکه شېر پلار او تره مړه شوي وو، نو
هغه ته ئې پلار د زرګرۍ له پنځو پر له پسې دوکا-
نونو څخه هم دا یو دوکان او له څو جریبو ځمکو.
د دوه باغونو او دوو لویو کلاګانو څخه هم
همدا یو. د تخته پل او آهنګرۍ د سیمې کلاوې پاته
وه او بس، نور هر څه یې پخپلو ملګرو او ځوانانو
باندې خوړلي او لګولي وو. سره د دې هم کاکه
شېر عجیب خوی او ډېر لوی زړه درلوده.
داسې چې که بیا هم کوم نېستمن او مستحق ور ته
دربډلای وای نو په پوره بیا ورچې هغه د خپل جیب
پیسې او د خپل کور اوړه او ور بخښي غوړي هم
ورسره نیمایي کول. له بل پلوه کاکه شېر که څه
هم چې یو توریالی پهلوان او په غیرت مین ځوان
وه خو د دې تر څنګه یې په زرګرۍ کې هم له
خپل پلار څخه کمه نه درلوده او د هغه په لاس
جوړ شوي ګانې هم په خلکو کې هغه قدر زیات محبوب-

بیت او ښه شهرت ورپه برخه کړی و . کاکه
شیر د دې تر خواړه پر مغرور او بې پروا ځوان هم و ، د سیالی
او هم چشمی په ډګر کې هر کله تر نورو یو ګام
ترمخ دریده . او د رقیبانو او حریفانو تر پوزې
پاس خبره . یې هم نشوز غملای ، او بیا به ورسره
لاس او ګریوان و او تر هغو پورې به یې نه پرېښوده
خو چې دی تو بې پرې نه وای ایستلی ، خو کاکه شیر
لا ځوان او د پر ځوان و . یو ازې د ژوندانه
اته و یشت ښکلی پسرلی یې تېر کړی و . دده ټنګی
او پلنې ونی ، قوي غړي او ستړو او ښکلې څیرې
ښتن و . چې نر بو ، اوږد و او چنګو ـ
رېتو نو بې له وړ ی تورې ږیرې سره . د هغه
سوږنه څیره لا ښکلې او جذابه ښودله . هغه به زیا ـ
تر . وختونه ور پښمینه لنګی وهله او دهغی اوږده
شمله به یې له څپلی غاړې راتاووله ، چرمه کاری شوې
واسکټ او خاسکی پخن داره جامې به یې اغوستې او د پرې
ښکلې پېښورې څپلې به یې په پښو کولې .
سپاوون مهال کله چې به د لمر زرینې پلوشې د کاکه

شیر د لویې او ښکلې کلا پر بامو نو او دیوالو نو څرېدې
نو د هغه سوین پیری او پښتوانی نوکر شهباز خان کاکا به
پیاد کا که شیر سوین خیالی آس د هغه تللو ته چمتو کړی و
او تر هغو پوری به قبضه په لاس ورته ولاړ و ، چې کا که شیر
په له بالاخانی ، نکړ ته راښکته شو. کاکه عادت درلوده چې
د کلا ، له مېنځه به یې پر آس پښه اړوله او دوکان ته به
روانیده. د کاکه شیر لویه کلا د پښتوانی کابل د لاهوري
دروازې د تخته پل او آهنګری په سیمه کې د یوی لویې لارې
ترخوا پرته وه ، د زنګ د زنګ دیوا لونه ، هوادار ه بالا
خانې او ښایسته خونې ، لویې سهما نخانی او دوتلو د وه پر له-
پسې دروازې یې درلودې، چې پر خوا خلاصیدو نکې دروا-
زه یې خورا لویه او په رازراز لویو او سپینو زو ، میخونو او
گل میخونو او غټو ځنځیرو نو تزئین او سمبال شوې وه .

ترڅو به چې کا که شیر دوکان ته رسیده ، نو شاگرد-
انو به یې دو دان هم ښه پاك او سمبال کړی و ، له رسیدو سره سم به
یې یوه شاگرد د آس جلو نیوه او هغه به یې یوه سرای ته بیوه او
هلته به یې تاړه او بیا به نور دریوا ړو شاگردانو تر تیاره
ماښامه پوری په زیات شوق له خپل استاد کاکه شیر سره به
دوکان کې کار کاوه .

کاکه شیر یوه سپین سرې خودیره زړوره او میړنی مور درلوده ، خلکو به ویلی چې هغه له اصله پښتنه سومنده ده ، خو ګوره چې نصیب او قسمت خپل کار کوی او داسې د هغې قلم هم د زبردست خان سره وهل شوی و ، چې هغه هم له اصله پښتون و ، خو په کابل ښار کې یې د زیاتې استوګنې له امله پارسو ژبه هم ښه ویلی شو .

د کاکه شیر مور ته خپل یوازینی زوی زښت ډیر ګران و . او نه یې غوښتل چې الکه د پلار په شان یې د خپل ایکی یو زوی د کوژدی او واده داغ له ځا نه سره خاوروته یوسی . نو یې ځلور کاله مخکې هرې خوا لاس او پښې واچولې ، او د خپل زوی کاکه شیر له پاره یې یوه حسینه او د درانه خوی نجل پیدا او را واده کړه او دادی کاکه شیر اوس د یوه ګلالی زوی پلار شوی هم و .

د کاکه شیر کورنی له پلار پلاره د ښاریوه شتمنه او معتبره کورنی ګڼل کیده او د خلکو ترمنځ یې ښه عزت او اعتبار درلوده ، ان دومره چې د کاکه شیر مور او میرمنې د کور په چار و او سړو تود و کې لاس قدری هم نه وا هه او د ـ هغوی ټول کار او چوپړ د شهباز خان کاکا او د هغه د میرمنې نازکو توری له خوا سرته رسیده او داشان د کاکه شیر کورنی

ACKU

نسبتاً سوکاله او ان یو څه اشرافي ژوند له پښتنو څخه
برخورد اره وه.

ددې تر څنګ کاکه شېر په مظلومانو ډېر زړه سواندی او د بې وسو خلکو خواخوږی او ورسره د زیات زغم او حوصلې لرونکی سړی هم وه. کاکه شېر عادت درلوده چې په ډېرو خبرو به یې سر نه خوږاوه او ډېر څه به یې په پوزه ګڼل، ژر به چا ته نه په قهر کېده او نه به یې هم چا ته بې ځایه څه ټیټ او پاس ویلی. خو سره د دې تر څنګ هغه کله هم چا ته ټیټ او په سرو سترګو هم نشو کتلای، هغه شاهیني نظر درلوده ټیټه او کمه به یې هم چا ته نه ویلای او نه یې هم د زور او زرلرونکو څخه پروا ساتله څینو په همدې وجه کاکه شېر سرزوری ځوان باله.

کاکه شېر د خپلو همدې خصلتونو په وجه د هغه وخت د عسکری هشت نفری خدمت هم په همدې اسې یوې مازې خبرې چې د کاکه شېر په ماغزو، او د هغه په بو څه تند او غیرتي طبیعت بنه نه وه لګېدلې، دوه کاله پخوا سر ته رسولی وه. په هغو وختو کې قاعده داسې وه چې د هشتو او اعتبارلرونکو خلکو عسکري نه کوله.

څو نورو به په اتو تنو او تن دتیا ګلی من دوری
په ور کړي سره له خپل منځه عسکری خدمت ته لیږه او
دهغه دخدمت په وجه په نور اوه تنه هم دعسکری له
خدمت څخه خلاصیدل .

هشت نفری ته د کاکه شیر د تللو خبره داسې وه چې
څو کاله مخکې د کاکه شیر د کور د پخوانی نوکر
شهباز خان کاکا تربرونو او ځینو نورو خپلوانو هغه
ته داسې چل جوړ کړ چې هغه له خپل منځه هشت نفری
ته ولېږی . هغوی پدې سلسله کې څه عرض او داد
هم کړی واو شهباز خان کاکا بې دجلب سپاهی ته
ورښودلی وچې ددوی پر ځای بې هشت نفری ته بوزی.
کاکه شیر پدې پوهېږي باندې له خبریه وسره سخت په
غوسه شو او چې هر څنګه کېده، نو شهباز خان کاکا
بې بېرته راووست ، نو بې دهغه تربرونو ته احوال
ورکړ چې راشئ او له کاکه شیر سره خبرې وکړی. د شهباز
خان کاکا تربرونو چې خان له کاکه شیر سره مخامخ
لیده، نو څو کسه معیوبه اوله پښو پاتې کسان بې پیدا
او هغه بې ورولېږل ، هغوی کاکه شیر ته لههغه لوری

سره لمن وغوړوله او هغه ته یې دعذر او زارۍ خانه
ونیوله. کاکه شیر له عجیبې وضعې سره مخامخ شو.
هغه پخپلې وړاندې څو تنه معیوبه، گوډ او ړانده لیدل
چې هغه ته یې دعذر لمن غوړولې، خو ددې په مقابل کې
باید کاکه شیر پدې راضي شوی وای چې خپل بې وسې
خوار او یو څه سپین ږیري شوي نوکر چې کاکه شیر ورته
له پلاره څه کم احترام نه درلوده، د هشت
نفرۍ، خدمت ته ولېږي. هغه چې کلونه کلونه، د
کاکه شیر او د هغه د کورنۍ د زښت ډېر صادقه نوکر
په څېر له خپلې مېړینې سره د هغوی چوپړ کاوه او پر کاکه
شیر لکه د ډېر خواږه او خواخوږي دوست په څېر
گران و. له بل پلوه کاکه شیر پدې هم پوهېده چې
هغوی له شهباز خان کاکا سره په چل کې دي،
مگر گوره چې څه یې په زړه ورو گرځېدل، چې هڅونه
یې یو څه زیږه شول، نو هسې چې هغوی ته یې د یوه
شاهین په څېر کتلې، په یو څه زهر ده یې ورته وویل:

ـچې داسې دهغو تاسېء ځی . هشت نفری او دملک
او خلکو خدمت په رښتیا هم ډېرو کار دی . . اودا
کار زه پخپله کوم ، ځیء تاسې ټول خلاص یئ . . په
مخه موښه ! . . کاکه شیر ډېرانې په لاره کې ډېر څه
کولی شی ، هشت نفری خود ملک او وطن خدمت دی .

اوداسې کاکه شیر د شهباز خان کاکا په خاطر
پخپله خوښه دې ته غاړه کښوده چې پخپله د هغوی پر
ځای د هشت نفری خدمت ته ولاړ شی . کړ څه هم چې د
کاکه شیر پلار حاجی زبردست خان له دې خبرې څخه
په خبر یدو سره ، خپل زوی ته ډېر وویل چې له ځپل
دې هوډه واوړی او هغه ته یې ډاډ ورکړ چې د پېسو په
ورکولو سره به بل څوک د هغه پر ځای هشت نفری ته د لیږلو
له پاره پیدا کړی ، خو نه ! کاکه شیر پخپل هوډ
ودریده او که څه هم چې نوی یې واده کړی و ، بیا هم
په ډېرې خوښی خدمت ته حاضر شو ، مگر د حاجی صاحب
زبردست خان ښکته پورته گرځیدو ، د یوه او بل لیدو
کاکه شیر ته داگته ورسوله چې د بالاحصار د دارالسلطنې
په پوځی قطعې کې عسکر شی . خو کاکه شیر د ښکلې

ACKU

او سېږنی بڼې او پیاوړو او متناسبو اندامونو د لرلو له
امله په خاص ډول کې موظف او پیاداسېر د حرمسرا د
خاص حاضر باش د دندې له پاره وټاکل شو .

د عسکری په دوره کې کاکه شېر داسې له خانه ،
هوښیاري او زړه ورتیا وښودله چې ان د هشت نفری له تیر ولو
وروسته بې ځو ځله له هغه شخه وغوښتل چې د منصبدار
په رتبه د حرم د خاص حاضر باش په توګه دنده په لوړ
صلاحیت سره سرته ورسوی . خو کاکه شېر هیڅکله د دې
دندې شوقمن نه و . هغه یوازې د خپل هوډ د پوره کولو
له پاره د هشت نفری خدمت سرته رسا وه . او کله به
چې خلک د کاکه شېر له داسې خبرو او هوډو نو شخه
خبریدل ، نو داسې به بې ګڼله چې کاکه شېر ډېر هوښیار
ځوان ، خو ډېر سرزوری کاکه دی ، داسې چې که هر
شه و وایی نو بیا بې پروره پېه چې وی سرته هم رسوی .

خو کاکه شېر له بل پلوه له ورکتوب هغه نه چې زیا-
تره به د خپل پلار سره ګرځیده او په تېره بیا له حاجی
صاحب خیر الدین خان سره به د خپل پلار په مجلسونو
کې بې د هغوی خبرو ته غوږ ایښوده ، نو داشان له سیاست

سره یې هم یوځه آشنایي موندلې وه . پلاریې شیرته د پرځله د پرنګیانو سره د افغان خلکو د لویې جګړې په باب ډیرې کیسې کړې وې چې دغې په لړکې انګریزانو سخته ماته وکړه او دغوی له ډیر ستراو سمبال پوځ څخه یوازې یونیم ژواندی سپور ایله ترپره ځایه ځان ورسولی شواوبس .

دې خبرواو کیسو دغه په زړه کې هم د وطنپالنې اورلګولی وو، ان دومره چې ډیرځله به ارمان ورته چې کاشکې یې له پرنګیانو سره جګړې کې برخه درلودلای خوچې له پرغلګر غلیم سره یې په سپین میدان کې هم ځان آزمویلی وای .

په دې توګه له هغه وخته بیا تراوسه کاکه شیر د ملک او وطن له سرنوشت سره دمینې لرلو په وجه تل هڅه کوله چې ځان په هیواد کې له ټولو روانو سیاسي پیښوڅخه خبروساتي . په دې برخه کې د کاکه شیر یارانه لکه د خپل پلار په څیر ، زیاتره له حاجي صاحب خیرالدین خان سره وه اوده . هغه اوس هم دورځې یودوه واره ځر ور د حاجي صاحب خیر الدین خان د و کان ته سر

ACKU

ښکاره کوی او د حاجی صاحب له در ناوی او هېر اخستلو-
سره څه شیبه له هغه سره کېنی او د ملك او وطن په حال
احوال ځان خبروی . کاکه شیر دغه راز د کابل له نورو
کاکه گانو او ښو ځوانانو سره هم په مجلسونو کې
زیاتره په همدې باب غږېږی او هغوی ته نوی اطلاعات او
تازه پېښې بیانوی او اوږدې شپې په همدې خبرو تیروی.
خو پروانځې څو ورځې مخکې وچې حاجی صاحب کاکه-
شیر ته ډېر ترخه حقایق په ډاگه کړل او هغه ته یې دا
څرگنده کړه چې امیر یعقوبخان نور تش په نامه امیر دی
او نور ټول واك او اختیار یې د پېرنگیانو لاس ته ورکړی
دی . د کاکه شیر، په دې خبرو باندې په خبر یدو سره
امیر ته سخته غوسه راغی او زړه یې غواړی چې که هر
څنگه کېږی نو یو وار ځان تر دې ډارن امیر پورې چې
غواړی د ټولو افغان خلکو نوم خدای مه کړه ورته
کړی، ورور سوی او د هغه له خوږه داخبره تیره کړی
چې خلك له پېرنگیانو سره د هغه په سودا بازیو پوره
خبرشوی دی . او په دې وجه دی باید د خپلو شرموونکو
عملونو سزا ته د خلکو له خوا مستر گې په لاره اوسی .

کاکه شیر یعقوب ښه پېژنی اوچې کله دی په بالا-
حصار کې عسکرو، توپه سلها و وحمله يې په يعقوب خان
باندې دیوه ښندی په شور پېره کړی وه او دهغه خوار او
زبون حالت يې له نږدې لیدلی و اودهغه له ویرندو کی
او ځان سا تی طبیعت سره آشناواو په همدې وجه هم
کاکه شیر ته يعقوب خان یوداسې ضعیف الا راده سړی
ښکار یده چې کله هم پر افغان خلکو باندې يې دوا کمنی
صلاحیت اولیا قت نه در لوده. خواوس چې داسې شوی
وه، نو کاکه شیر دهغې ورځې په انتظار کې وچې څنګه
یو ځل ترا مره ځان ور سوی او هغه د خپلو ننګینو او
شر موونکو عملو توپه ناوړه نتیجواو عواقبو ښه پوه کړی
اوان دا ورته ښکار ګنده کړی چې خلک نور یعقوب خان
دخپل مشراو واکمن په حیث نه منی.

کاکه شیر تر دې مهاله خو ځله له ځان سره دا
موچو نه وهلی چې څنګه ځان تر یعقوب خان پورې ورو رسوی،
خو لا يې هم پدې باب څه پریکړه نده کړی، چې پدې سلسله
کې به څه اقدام لاس پو رې کړی؟

خوله دې هر څه چې ور تیرشو کاکه شیر یو و ښتونی،

پاك زړی او دحساس وجدان لرونکی مسلمان ځوان دی چې یو لمونځ هم بې له جمعې او بې له جوماته نه کوی د دې تر څنګه له خپل پلار نه ی کسب زرګری سره هم ډېره مینه لری او په دې کارکی هم له چا نه کم لاس نه لری. دژوند شپې ورځې دښو ځوانانو سره یوځای په ډېر خوند، خوښۍ، وډېر آرام او مزو سره تیروی. خو آیا شیر پدې پوهېږی چې روزګار او ژوند له هغه سره څه کول غواړی، هغه ته یې څه سنجولی ده، هغه ته څه لوبې او نخرې ورته سخه کوی، څه دامونه یې دهغه دژوند په لاره کې ورته غوړولی دی او څنګه هغه د خپلو راز راز نخرو په سختو او زورورو توپانونو کې ورلاهو کوی ؟؟

* * *

تنکی غرمه ده، آسمان لکه د ناپایه شین دند او پراخې نیلی پردې په څېر ښکلی او صاف دی، خو داوړی د لمر تودوخه خلك ځوروی، د زرګری په هټه کې لکه د نورو ورځو غوندی د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته ده، د کبابی او دنا نوا- یانو د دوکانونو اشتها پارونکی بوی او لوګی تو له

کوڅه په سر اخستې ده، کاکه شېر هم چې سپېڅې نازکې
جامې يې اغوستې او په ملا او سټو کې يې دوسلو دځرو لو
چرسي کمربندونه د هغه له چرمه کاري شوي او پرده واسکټ له
لاندې هم له ورا په ښکارې، خو هغه بې خيال له سر تيټ اچولی
او ټول فکر يې د هغې کړی جوړ ولو ته نيولی چې غواړي
سره او ښنه ښکلې غمی برې ولګوي.

په دوکان کې بوخه ور اندې ښايسته ګل ناست دی
هغه هم په څه شي بوخت دی، ښايسته ګل د کاکه شېر له زياتو
شاګردانو څخه يو قابله هلک دی، چې په زرګرۍ کې يې
ان له ډېرو کتو په د کاکه شېر تر نظر لاندې داسې
مهارت موندلی چې اوس کولی شي پخپله هم د خپلو
مينه والو فرمايشونو ته ډېر ښه ځواب وواي، ظاهراً هغه
له ځرو جامو، زری قرمنځولی او ژړ بخون پلن واسکټ څخه
داسې ايسي چې د هغه ژوند دې هم ډېر ښه نه وي، خو دا دی
اوس داسې په څه کار بوخت دی چې ان يو ځل سر هم نه
را پورته کوي، د دوکان هغه بل کونج ته دوه نور واړه
هلکان هم د کاکه شېر او ښايسته ګل سره پخپلې اندازې
کار کوي، بوايې دېوې ورې کښوړې په بادور کولو سره

دسکروټو هغه ورتازه ساتنې چې دیوه واړه نغري په څنګ
دښایسته ګل تر مخې ایښودل شوی دی، خو هغه یې د سوځنو
زړو کومه جوړه شوی ګیڼه په څه شي موښي او پاکوي یې.
دوکان او په زیاته پیمانه دیوالونه یې او دغه راز د دوکان تر
مخې ایښودل شوي ښیښه یي صندوقتول لهرا زراز ښځینه
ګاڼو او پسولونو څخه ډک دی.

ښایسته ګل څه شي په اور کې ږدي او دا وار په خپله په
یوې او ږدې نلکۍ د هغه شاوخوا سکروټې پوکوي، پیاتو
یو څه شیبه دمه کوي او د زیاتې ګرمۍ د لاسه په ساړه
دیوال ډډه لګوي او دیو ډول مطبوع سړو احساس یې ان
د زړه تر تل کوي. څه شیبه د کوڅې لیرو برخو ته نظر
کوي او ډېره شیبه لګه داچې خوب وړي وي او په خوبکې څه
وینې، ستر ګې یې په کوڅې کې د لاالهاند وانسانانو د پښو
خواته څوړ پاتې کیږي، را زراز خلک وینې.
چې په کوڅه کې آخوا د یخوا ځي او راځي.
ځینې سودا کوي، ځینې سره د ریږي او څه سره وایي
او ځینې نور هم خپله لاره وهي. په دې کې د ښایسته ګل
سترګې له لرې په دوو کوچنیو ښځو لګیږي. هغه داده

دې چې کوچۍ ښځې چې يوه يې ځوانه او بله يې يوڅه زړه او سپين سرې ښکارېږي، بلې خوا ته نه ځي او هرو مرو مخامخ د هغوی دوکان ته راروانې دي. ډېر کوچيان د کاکه شير د زرګرۍ د دوکان پخواني بېپاران او آشنايان دي او له بله دوکانه څه شی نه اخلي. نو ښايسته ګل کاکه شير ته سخ ورا ړوی او په يوڅه خوښۍ سره ور ته وايي:

ـ استاده!... لکه چې ښادې کوچيانې بېپارانې راغلې ...

کاکه شير د ښايسته ګل په دې خبرې لکه په خوب ويښ چې اوبه و شيندې يو ناڅاپه سر را پورته کوي، خو سترګې يې د ځوانې کوچۍ لکه د سپوږمۍ په شان سپين او ګرد مخ ته چې پلو يې پرې راګرځولی او ته به وايې چې بنګړ و يې ټوله کوڅه روښانه کړېده ورنږدې پاته کېږي. حسينه کوچۍ پېغله له ځولۍ سور سره په ورو ورو او سوکو قدمو نواود پېغلتيا به په خوند ورو ناز ـ نخرو او مکېز سره په رښتيا هم د کاکه شير دوکان ته راځي او د دوکان تر مخې د ځولې سور تر خوا لږ څه د کاکه شير له

ACKU

ستر گو پناه دریږی. خو په همدې لوړې شیبه کې د هغې تورې
غمی او خماری بریښنده سترګې، وتلی او اناری
بار خوګان، لهجگی قلمی او نری پوزې سره چې کله
کله د پلوله ځنډې راڅر ګند یږی، د کاکه شهر په زړه
لکه څه عجیبه شان جادو اغیزه کوی، خوځې کله کاکه
شهر له کوچی بې پروا او سر غړاندې ښاپیری سره ستر ګې
په ستر ګې کیږ ی، نو په ټول ژوند کې د ا د لوړی ځل
له پاره د کوچی پیر یښتې معصومانه آسمانی ښا یست د کاکه
شهر لکه د سنګدان په څیر کلک زړه له ځایه راخوزوی
او لکه ذوالې پانه یې په رپیدو راولی او له دې سره لګه د
ګلو نو د وږ مو په شان د هغې د سینې معطره بوی یې په زړه
کې څه نوی احساس او تازه ګیرا غوړوی.

شهر پر ته له څه و یلو یو ځل بیا سرتر پا یه کوچی پیر-
یښتی ته ګوری او د هغې د دنګې او غو ښنې خو نری و نې
او ښکلو خوش تراشو اندامونو په ننداری ستر ګې خوږوی،
کو چی پیغله له خپلې مو ر سره د د کا ن تر مخې په
ا یښو د ل شو ې قفسې کې مو جو د ې ګا نې
سره ګوری او ویدې کې کله هم نا بیره د هغې حسین مخ د

پلوله پوښکې رانښکاره شوې او داشان د هغې لکه د کوه قاف
د پرې د ښایست په لمدلو سره د کا که هر زړه لکه پانه
د سپا با د ته بې واره ریږدیا او دا سې احساس کوي چې
نور بې په زړه دا سې څه کیږي چې لاس یې کار ته نه
ورځي، ښکلاله لاسه ورځي، خوچې هرواره سترګې را پورته
کوي او ناز نینې کوچۍ پېغلې ته ګوري، نو داسې ګڼي
چې د هغې لکه د پرښتنا او سرو لمبو په شان او رنې حسن یې
اند پلوله شاهم سترګې پرېښوي او په زړه کې یې سختې
ځړیکې خوخوږې غلبلې ګډوي. کوچیا نې لاهم له څه
ویلو پرته د د کان ترسځې ولاړې دي، ګانې ګوري.

خو کا که شیر د حسینې پېغلې د دې شانه حسن زور ور
سیلاو داسې په مخه اخستی او دې واره کړی یې دی
چې نه پوهیږي هغوی ته څه وو ایي او که نه لا یې هم
نریږدی چې هغوی پخپله یو څه ووایي. خو لاڅه زیاته
شیبه نه وي تیره چې سپین سرې کوچۍ هسې چې کا که
شیر ته ګوري په کوچیانې لهجې اوږد او غټو غټو خبرو
هغه ته وو ایي:

- ور وره، یوه چمکلی غواړو ا . . . موږ خو ستا

بېچاران يو . . . مڅکې وختو کې مې هم څوځله له تا نه گانې اخستې دي . . . اوس مې دغې لور ته يوه چمکلی څوارم . . . خو چې ښه چمکلی وي ؟ !

خو کاکه شېر چې په ټول ژوند کې دلومړي ځل له پاره ځان دداسې يوه آسماني خو تالانګرحسن په سېلاو کې ډوب وينی ، دومره يې لاس له پښوو رك کړيدی چې هلته سم نه پوهېږي چې کوچی هغه ته څه وويل ، مگر هغه کوی په ځان حاکم اوسی . خو پر ته تردې چې وغواړی ستر گې يې بيا هم نا ببره حسينه کوچی له نظره تېروی ، او نه ولې نه ولې وايي :

ـ څه . . . چمکلی موغوښته ! ؟ . . .

موراولوردواړه له هوويلو سره سرو نه خو زوی کاکه شېر ښايسته گل ته وايي چې په دو کان کې موجو- دي ډېرې ښکلې چمکلی گانې هغوی ته راو اخلی ، تو هسې چې خول وور ستك بېرته را اخلې ، او ظا هرآ غواړی د پېغلې دمورپام له ځانه واړ وی ، نوهغې ته وايي چې :

ـ ته پخوله هم د دو کان په ديوالونو کې ځوړ ندو گا نو

ته پام وکړه، نه چې کومه یوه دې خوښه شي !!

خود کوچۍ پېغلې او دهغې دسور لکه چې نوې یې کوم څه ته پام شوی وی، دد کان دد یواله گانوته یې سترگې پاته کېږې او دا مهال دی چې ښایی هم د گانو دلیدلو په شوق، پېغله په پلوشخ پټول هېر وی. او دا وار کا که شیر ته فرصت پر ابر یوی چې دحسینې پېغلې لکه دسپوږمی په څېر سپینې اوروښانه مخ او تر گل نازکو سپینو سروبارخو گانو، لنډې زنې او سر کېوورو شونډو او گانوخواته دهغې داړول شو پوتوروبادامی سترگو اوددې له پردې راڅر گندې شوې لیونی کوونکې اوهوس پارونکې ښکلا ښه ډېره شېبه ننداره وکړی. هغه حسن چې لکه دسختو زلزلو په څېر یې په ټول ژوند کې دلو مړې ځل له پاره د کاکه شیر لکه تېږه کلک زړه په ډېر قوت سره لړزولی دی او څه نوې نوې او خوږې ولولې او هیلې پکې تخنوی. په دې کې د کا که شیر دې ته پام اوړی چې کوچۍ پېغلې همدا اوس هم له خپلو اوږدو او رنگارنگ کوچیانې جامو سره دوسره رازراز گانې اغوستې، چې هېڅ کمی دې ونه لری.

ACKU

دهغې په تور پټکي يوه پاولي داره ټيکه ځړيدلې وه، پر هسکې غاړې يې دسپينو، زرو يوه ښکلې غاړکۍ تالونه وهي او دسپينو زرو دوه پلنو کړو يې په سپينو او غوښنو متو پاندې داسې خوله لګولې چې ته به وايې کوم سخت ويې د پوځې په کنډک خوله لګولې وي، دې ته په کتود کاکه شير خوله هم او به کوي او زړه يې ميښ ميښ کيږي، لکه دا چې دې ددې پوځې خوړو ته تره غوکړ وهم سخت ويږي وي. خود کاکه شيرسترګي دهغې له زړه لړ زونکي صورت څخه يوه شيبه هم بلې خوانه اوړي، ته به وايې چې د کوچۍ پير پښتې نازنين صورت آن د توراو پده کوچيانې څونډې داره ټيکرۍ له پلو لاندې هم دومره کشش او جاذبه لري چې د کاکه شير سترګې ترې بلې خوا نشي او ښتلای. کاکه شيرته داسې ښکاري چې په زړه يې د پيغلې د نافذو تورو سترګو سخت ګوزار خوړلی وي چې دادی په ټول ژوند کې د دې کوچۍ پيرپښتې پيغلې د جادوګر حسن په وړاندې ځان سخت کمزوری ويني او داسې ور ته ايسي چې د هغه غرور، کاکه ګی او عياري داد ی د يوې ساده خوحسنې کوچۍ پيغلې د زړه لړ زونکي او اورنی حسن په

وړاندې په ګونډو کېږي. څه شېبه د ځانه سره سوچ کوي او پدې يې پوره باور راځي چې هغه هېڅکله هم داسې ښکلا او جادوګر حسن چېرته نه دی ليدلی، هسې ښايسته سرا او صورتې چې هغه د ځينو په وينا ته به وايې چې په قلم جوړ شوي او انځور شوي دي. کوچۍ پېغله د دښتو او بيا بانونو هوسۍ په رښتيا هم ډېره ښايسته ده، کټ مټ لکه د ښاپېرۍ په شان، له کوه قافه دراغلې پري او له آسمانه دراښکته شوې پېرۍ ښکارې په څېر. ښايسته ګل هم کله استاد او کله هم کوچۍ پېغلې ته ډېر ګوله ګونجه په کتو کتو سره په هر څه پوه شوی، نو هسې چې په دېوالونو کې ځوړندې ګانې يوه يوه لټوي او ښې ښې يې له منځه راخلي او بيلوي يې، په ډېرې حيرانتيا سره ګوري چې دا لومړی ځل دی چې د هغه استاد کاکه زرګر داسې د ډېرې حسنې کوچۍ په ليدلو سره ځان بايللی او د هغې د غړ ځنيو سترګو ښکار شوی دی چې هلو ځان ترې ورک کړي.

ښايسته ګل څلور پنځه دانې ډېرې ښکلې چمکلې ګانې راخلي او خپل استا د ته يې ور کوي او پوښتله. د نو رود راخستلو له پاره بيا هم د ګانو په کتلو لګيا کېږي، او چې کله

ډېر ستر ګولاندي خپل استاد او کوچنۍ پېغلې ته ګوري، نو
پوهېږي چې د هرې شېبې په تېرېدو سره کوچنۍ پېغله هم
لا زيات د پلوشه ښکلې ده هغه استاد ته د مينه ناك نظر اد
کولو څخه هم سر په نه کوي. څو يسته ګل دوه نورې ښکلې
چمکلې ګانې هم را اخلي او خپل استاد ته يې ور کوي،
کله چې شير چمکلې ګانې يوه يوه پېغلې او د هغې مور ته ور-
ښيي او ور کوي يې، چې وې يې ګوري. او پدې کې بيا هم يوه
لنډه شيبه، لکه د يوې پرښتنا په څېر له پلوشو لي حسينې
پرښتې کوچنۍ سره ستر ګې په ستر ګې کيږي او د کوچنۍ د غټو
تورو پر ښندو ستر ګو ډېره غښتې ان د ګا که شيرد زړه په
تل کې ځښيږي او د حسينې کوچنۍ د ملالو تورو ستر ګو په
ننداري کې داسې څه وينې چې هغوی په رښتيا هم ځان ترې
ګز د سره هېرېږي.

خو وار تر واره زيات د پېغلې له مينې ډك نظره داسې
احساسوي، لکه چې څوك يې په زړه د تېرو چړو څخوا په خوا په
ګوزارونه کوي. يو ځل هم وينې چې د کوچنۍ ښا پيري
په نرم يو سر و ګلابي شونډو ويا ندي يوه خوږه
او ا مېډو ا ره و نکې موسکا، ګل کوي

او د کاږکه شیر په زړه کې بیاهم راز راز اند یښنې هر راپور ته کوی . خو بې زړو ا ستا ستړ ګو کو چی لاله خپلې سور سره چمکلی ګانې ګوری او هسې چې هغه یوه یوه ښکته او پورته کوی او ښه یې ګوری، پښچلو سترګو کې کله کله داسې څه و رو ، ورو ، سره وا یی چې کا که شیر پرې نه پوهیږی. خو دا وار چې کله کا نه شیر غواړی بیاهم څه شیبه دحسینې پیغلې ننداره و کړی نو د کوچې ښځی پرې پام کیږی ، نو ددې له پاره چې دهغې په زړه کې څه نه وی ور ګرځیدلی ، نو په حیا سره خپلې سترګې بلې خوا اړوی او بیا هم څه شیبه د خپل و اړ. څټك په ښکته پورته کولو ځان ستړ ګو لوی او سر ښکته اچوی ، هغه ځان په داسې زور ور سیلا و کې لاهوشوی وینی، چې را وتل تر ې ور ته ډ یر سخت او ګران ښکا ری .

پدې کې د پیغلې مور یوځل هغې ته مخ وراړوی او په زغرده لهجه پرې غوسه کیږی :

ـ یره لښتې ! نور خودې زړه راته تنګ که . . ه ته نو څنګه چمکلی غواړی ! ؟

دلبنتې د نامه په اوريد و سره کاکه شير نا ببره ټکان خوری ، سررا پورته کوی او داسې په يو ډول ويار او خوښې سره پېغلې خوا گوری چې ته به وايې د هغې څه ډير پټ او خورا قيمتی راز يې موندلی وی . د کاکه شير په زړه کې يوه نوې او نا بللې خوښې شور گډوی او له زياتې خوښې داسې ورته ښکاری چې جامې يې پکې تنگې شوې يدی ، ته به وايې چې د هغې د نامه په اوريد وسره يې د زړه په باغچې کې نوی او رنگين ښايسته اوله په زړه پورو عطرو ډک گلان غوړيدلی وی چې د لبنتې نوم هلته لکه د بلبلو د شغول په څير انگازه کيږی، نود ځانه سره وايې :

– لبنته ! ... څومره ښکلی نوم !؟ . . . کټ مټ لکه تاندے لبنته ، ما ته را ماته خوله گلو ډکه لبنته . . . له سپينو اوسرو شگوفو ډکه لبنته ! . . . لويه خدا يه څومره ښکلې ده ؟ !

خو گوره چې پدې کې يې ولې يونا څا په د خولې ميرمنې «سرغلرې» څيره په خندا نيو سترگو ورته دسترگو په وړ اندې در يږی او زوی يې ابرک وريادیږی ،

نولاحول والله وایی او پر شیطان لعنت کوی ، چې د پېغلې جادو گرحسن دی په څه لوبو سر کړیدی ؟ څه زورور جاد وبې پرې کړی چې نشي کولی د دې سره سره بیاهم یوه شېبه خپلې سترگې د پېغلې له صورته یلې څواو اړوی ، نوله ځانه سره وایی :

ـ دا کوچی پېغله ... ! ؟ .. نه نه زه ښځه لرم ... زوی لرم ... خو نن زه دې خپل زړه ته حیرا نېږم هغه به چې لکه دغره په څېر زلزلو نشو خوز ولی ، نن داسې ترپېږی لکه چې مرغی نوې په دام کې نښتې وی اوخپل خلاصون له پاره مراو ځان و هی خو کاکه څېر ته له دې دامه وتل ډېر گران ښکاری .

تر دې وخته لکه چې د پېغلې اود هغې د نور جنجال دچمکلی په باب پای ته رسېدلی وی ، نوسور یې یوه چمکلی په لاس کې نیسې او هسې چې څېر ته یې ور ښکاروی ورته وایی :

ـ وروره ! ددې چمکلی بیه دې را سره جوړه کړه کاشکی چې یو څه نورغمی خو یې در لودلی ... زما دالور دزیاتوهمیو لرونکی چمکلی غواړی ، خو خیر دا

ډېره چمکلې بوټه دغې خوښه شوه ... بیا یې راته ووایه!

په همدې شېبه کې د کوټې په غولي تر داو غلچکی نظر د شیر په زړه کې څه نوی قوت راو پاروی او دغه په زړه کې څه خو شحا لوونکی احساس راپاروی، نو په موسېدلو شو او وایي:

ـ بیه خو یې جګه ده ... خو تاسو به بیا اتیا کابلي راکړي ... آخر تاسو زما عزیزان او پیاران یاستی، کله مو په دې بوټې چمکلې خپه کوم .. ترسر موجار!!

خو دا بیه لبنتي ته دومره عجیبه او حیرانونکې ښکاري چې «هووی! اتیا روپۍ؟!» ووایي او خاندي او ور پسې همې چې موسېدلی د پلو له پڅکې په غلچکی نظر کاکه شیر ته ګوری، زیاتوی:

ـ څه داسې صاحب د کټ غمی خو به پکې نه وی لګېدلي چې دومره یې بیه جګه ده... !؟

خو دلبنتي دا خبره د شیر په زړه بلشانې اګازه کوي لکه چې ګوچي بهر پښته کاکه شیر کومې آزمو یلې ته، کوم لوی او ډېر سخت آزماینت ته ورېولی، نو د چانه سره وایي:

- د امیر صاحب د کټ غمی !؟ ګوره چې ناز نینې کوچنۍ پېغلې ، د د ښتو او ښیا بانو نو دې ښا پیرې ته یې دا د باچا د کټ غمی څومره عجیب شی ښکاري ؟ ښایې دغو نوم یې چېرته له چانه اورېدلی وي، ښایې چاورته ویلي وي چې د باچا د کټ غمی ډېر ښایسته او قیمت بهاوی ... خو دا ته یې دا د څه دپاره وویل ؟.. ښایې هغه د خپلی مینې په درشل کې له شیره امتحان اخلی... نوچې داسې ده ... دا غمی به ورته راوړم !! ښیا نو یو ډول په خوښې کوچنی پېغلې ته وایې :

ګوره کوچنۍ! اوس چې دې دا هیله وکړه، نو که هر څنګه وشي ... دا غمی به درته راوړم او پدې چمکلی کې به یې درته کېنوم ... ما ته خلک کا که شیر وایي نو دا به د کا که شیر نامردي وي چې ستا دا هیله او دا دروند او پتمن پلوتش پر پرېږدی، یوازې یوه هفته مهلت غواړم ، په دا تمه وزخ د چمکلی پسې را شيء هیله خدای ته ده ... بې د دې نه هم ادې وویلې چې ستا دزیا تو غمیو لړ ونکی چمکلی خو ښېږي .

کوچنی مور او لور د رنګه شیبه د کا که شیر دې و ینا

او هوډ ته اړک اریانې غلې دریږي، څو کاکه شیر هسې چې ترستر ګولاندې کله کله په غلاد کوچی په غلې دیدن کوی د ځانه سره موچوهی :

- لښتې ... د ګلو دې تاندې او ماتې راماتې لښتې دې د ښتو اود ا ګونو ځا پیري په سخت امتحان کې راګیر کړم ... خو توکل په خدای ... زه باید دا میر صاحب د کټ غمی هغې ته راوړم او انشا الله چې رابه یې وړم !

شیر ته په یاد ورځی چې هغه پر ته د دې نه هم څو ځله د اچرت وهلی، چې له اسیر سره د مخامخ کتلو او هغه ته له پر نکیا نوسره د لاس یو کولو په خاطر د افغانی پیغور د ځر ګندو لو له پاره پر بالاحصار ورو خیژی، په تیره بیا اوس چې د هغه د تخت د غمیو دراوړلو بهانه هم ورته پیدا شوی نو دا کار به ضرور او هرو مرو ته رسوی .

خو البته چې په بالاحصار ورختل او له یوې پاچاهی او سلطنت سره ډغرې وهل څه ساده کار نه دی، د شیر زړه غواړی او د کاکه شیر غوندې بیا که ځوان.

کاکه شیر غواړی چې بالاحصار ته، هلته چې دارالسلطنه ده او ده پکې پوره ده وه، کا له ځپله

هشت نفري سرته رسولي ده ، ولاړشي ، خودومره چې په پټه ، هغه فکر کوي چې دامورتر حرمسرا پورې په ورتللوسره به هرڅه وشي ، هم به اميرو کتلای شي اوهم به دهغه له تخته غمي راوړي .

خود کوچي پيغلې فتنه گرې ستر گې چې بې په پټه بې د کاکه شير له زړه سره تارونه څغلولي ، پداسې حال کې چې د بوې درنې حمرا ا نتها نشې بکې له ورايه ارېچې ، څه شيبه پياهم دپلوله څنډې د شير له ستر گوسره مخ په مخ کېږي ، هغه سترگې چې کاکه شير هغوته په ځير کتلوسره له بوې ډيرې رنگينې ، خوږې او په زړه پورې د نها سره آشنا کېږي . شير د کوچي پيغلې په تورو غټو بادامي سترگواو دهغو په جادوگرو کتو کې ددامې اورني سيني سرغړاند ه بلې لمبې وينې چې دی لکه پتنگ دځان خوارا کاږي . بدې کې پيغله او دهغې مور له زرگر سره دچمکلې بيه بها خلاصوي او بس له دې چې له هغه سره دچمکلی دوړو ، بيه تا کي ، نود شير له دو کانه روانېږي اوځي . خولاډېر نه وي لرې شوي چې پيغله بوځل بيا هم مخ راا ړوي اوپه موسکي څېرې دخداي پامانی په

توګه کاکه ښهر ته يو ځل ګورئ . او ښهر هم ترهغو پسې ګورئ چې کوڅې پېغله اوسوريې دبازار په ګنه ګونه کې دهغه له سترګو پناه کېږي .

ښهر په شيبه يوډول چرتي پاته کېږي او پدې کې ښايسته ګل هسې چې له سترګو لاندې خپل استادته ګوري، په يو ډول احتياط سره ورته وايي :

ـ استاده ! . . . څه چرت وړې يې . . . نه چې .!؟

ايله چې دښا يسته ګل په دې خبرې دښير،خان ته پام کېږي ، نو ناببره لاسونه سره تړلي پورته کوي شخې پاسي او بيا نو لکه دهغه چانه شان چې اوږ دمنزل يې وهلی وي او ډيرستو مانه اووړې شوی وي ، ښايسته ګل ته مخ اړوي اووايي :

ـ هيڅ نه دي ښايسته خا نه ! . . . ته وړ و ته پوسې ور کړه چې ولاړ شي او نن يوسزه دار او څوړ کباب راوړي . .

شهبا زخان کاکان نشته چې دوډئ له کوره راوړي . .

او ددې خبرې په کولو سره لکه دا چې نشي کولی داسې ژر کوڅې حسونه پېغله هيره کړي، يو ځل بيا د

هغې کوچۍ او دد ښتو او بیابانو د پریښتی د خوږو خیالونو په ناپایه سیند کې لاهو کیږی .

او دا مې سرغړاندې کوچۍ لښتې په کاکه شیر ، په دېنه تسلیمېدونکې اتل زړی باندې په ډیرې ساده گی هسې سخت جاده و کړل چې د هغه زړه بې پښخپلې مېنې او یارانې کې ورگرو کړاو هغه یې له راز راز اندیښنو او خیالونو سره سر کړ .

*** ***

شپه له نیمایی هم تیره ده . کاکه شیر له خپلو دوه تنو نورو ملگرو دوستانو سره د خپلې مهمانخانې په بالا- خانه کې پر وت دی ، هغه تر همدې څو شیبو مخکې هم له خپلو میلمنو سره و یښ کیناستلی ، خو په پای کې هغوی غزیدلی او خوب وړی دی ، خو مگر شیر ته خوب نه ورځی خوب یې له ستر گو تښتیدلی دی . په بسترې کې کله په یوه اړخ او کله په بل اړخ لټ په لټ اوړی او لکه دا چې کوم سخت زهر جن مار یې زړه چیچلی وی سخت ناارامه دی ته به وایې چې ځمکه ځای

نه ور کوي. او کوم ځوروونکی درد او سوی یې
آرام ته نه پرېږدي. خو مګر هغه خوشحاله دی
څه خوږه خوښي یې په زړه کې غورځېدلې، داسې ګڼې
چې هلوېه ژوند کې یې یوه ډېره لویه اوږده راښکونکې
هیله پیدا شوې ده. داسې احساسوي لکه چې له
هر څه او هرې خوا څخه د کوچې لښتې د خوږې سېنې
بوی هرې لګېږي او د هغه زړه لکه په ګلو ریدلي
پرخه تازه کوي. کله هم دلښتې د پاسته او خوا څه
آواز او ـ وړو، وړو خبرو زمزمې لکه سبا او ماښام
چې له ځنګلونو څخه د مرغانو د چغېدو آواز له لېرې
څخه تر غوږه کېږي، د کاکه شېر په ماغزو کې
انګازې کوي، شېر او ږدې شېبې د بالاخانې له پټه
دارې ارمې څخه چې پټو ندېې د تو دو خې له امله
پورته کړې دي، د هغې سپېڅلې سپوږمۍ په ځکه رنګه
پلوشو ته په ځیر ځیر ګوري، چې دانګړدو نود ځانګو څخه

دهغه پر بستري را پرېوتلې دی . کاکه شور دهغه
په سترګو باندې د سپوږمۍ د پلو شود لوېده و نکې رڼاله
را لوېده و سره و ېنې چې د سپوږمۍ ټوکله دپانو او
ځانګو له پلو څخه ګله کله ، لکه کوچی لښتې چې ورته
کښل ، هغه ته په ځلا ، غلا ګوري او شور ددې رڼو
پلو شوپه زر ېنو تنا بو لو کې دخپلې دې لکه ګل نوې
غوړېدلې مخې مړ غلرن ځیا لو نه پیدی ، ایا بې
بو نا ځاپه فکر ته را غی چې دی باید د امیر صاحب
د تخت غمی راوړی او د سلالې کوچی په چمکلی کې
بې کېنوی او دا نو دهرچا کار نه دی .

په دیره بیا چې په دې خوو رځو کې دا آوازه لوېدلې
چې دانګریزانو پوځ هم په بالا حصار کې پروت
دی . خو کاکه شیر له کوچی ډغلې سره ژبه کړې چې
هغه به ورته راوړی. هغه په ټول ژوند کې ان د خپل سر په بیه
هم ندی حاضر شوی چې خپله ژبه او خپل هوډ مات کړي . مګر

بدې ډول ده دی چې هغه خوشحاله ( هشت نفری ) هم په همدې بالا حصار کې تېره کړېده او د بالا حصار ټولې برخې لوېشت په لوېشت او لوټه په لوټه ورمعلومې دي. هغه ته د امیر صاحب د دربار، د امیر صاحب د مجلس او لید نو کتنو، د امیر صاحب حرم سرای او د ان د امیر صاحب په حرمسرای کې د هغه د خوب، خوړو ټول ځایونه ورته ور معلوم دي. او بېدې شېبې بالا حصار ته دور تللو له پاره چرت وهی او د هره شیبه پس له ځانه سره سباشپه بالا حصار ته د تللو نقشه باسي، ښه پرې فکر کوي او د اد ځانه سره سنجوي چې هغه باید څه وکړي. ؟

بدې کې بوځل بیا د لښتې د غور ډکې خیال زړه ته ورلوېږي چې د هغې په سېوړ و چولی را پرېوتلی او

سرو نو بې دهغې ددو اړو بار خو ګانو تر خو ا حلقې خوړلې وې او لکه دما را نوبه څیر بې د هغې د سوون سوړ سی مخ، سرو انا ری بارخو ګانو او د ووړ یښنده باد امی ستر ګو خز انې سا تلې . دې خیال اوړ دې شوېې د شیر په افکارو کې ریښې وځغلو لی . اود اسې کاکه شیر اوړ ده شپه ژوندی او په و یښه ترنژ دې چرباڼګه پورې راو رسوله .خو لا چرباڼګ شو ی نه و ،چې دشیر سترګې په یوه آرامه خوب سر ه پټې شو ې لښته بې په خوب کې و لیده چې په خند اخند اغا ړه غړی دهغه غیږ ې ته ورځی .خوسم له دې سره چې شیر غواړ ی هغه په غیږ ه کې ټینګه کړی، ملاصاحب «الله اکبر » دسبا دلما نځه آذ ان کو ی شیر را پاڅیږ ي کلمه وا یی او ځی چې دسبا د لما نځه له پاره اود س تازه کړی اوبیا خپل ملګر ی هم لما نځه او او داسه ته راپا څو ی .

***    ***

گا که شهر خپله پیش قبضه، سیلاوه او تلوار هر څه تیار کړی او ویښ ناست دی او چې گوری شپه څه پخه شوه، نو پر ته تر دې چې څوك بې په وتلو پوه شی، په آس سور یږی او له کلا وځی او د امیر صاحب د تخت د غمیو په راوړلو پسې خوزیږی.

شپه له نیمایی هم تیره ده، سپوږمی د شهر دروازې دغره په یوه کنډو کې دلویدو په حال کې ده او د خپلو وروستیو وړانگو د څادر په راټولولو سره په ښار باندې توره تروږمی وزرونه خپروی.

په دې کې یو سپور د شهر دروازې له غره څخه د خواجه خوردك له دډی ورو، ورو په بالا۔حصار ور ښکته کیږی، پدې حال کې هغه یو ځنگی سپور ښکاری، مگر هغه کا که شهر دی چې غواړی په همدې یو ځان له یوی باچاهی سره لاس واچوی او څه شی چې غواړي هغه ترې راوړی.

خو او س چې په بالا حصار خیژی نو د غمیو راوړل

ACKU

بې یو ازینی مقصد نه دی ، هغه غواړی چې په بالا- حصار کې دانګریزانو د استوګنې او موجودیت په باب هم معلومات پیدا کړی او انګریزانو ته د خطر د زنګ په شیر د اخبار دا ری ورکړی چې اڼیو افغان هم کولی شی هغوی ته لوی سرخوږی اوکړاو پیدا کړی ، او له دې امله کاکه شیر د هرې پیښې کیدو ته ځان چمتو ګڼی .

کاکه شیر د غره د کندو وترخو اد یوې ونې ترڅنګ له آسه راښکته کیږی . آس د ونې په ډډ پوری تړی او پخپله ورو ورو د بالا حصار دلویدیځې خوا پاخه او ډېرین دیواله خواته نژدې کیږی او د دیواله په خواکې تر یوه ځایه مخکې ځی ، خو چې په دیواله کې له پامه یو درز پیدا کوی ، نو په ډېر تلوار پګړی له سره راخلاصوی ، په یوه سر کې یې یوه غټه او اوږده تیږه تړی اود دیواله درز ته یې ور اچوی . د تیږو د سره لګیدو آواز پورته کیږی او د تیاره رې شپې په چوپتیا کې یې غږ انګازه کوی . شیر

ACKU

ښه په دقت غوږ نیسي، چې څه کیږي. خو کوم عکس-
العمل نه احساسوي. مګر تیږه د دیوال په درز کې
کلکه ږدي. شپږ څو واره هغه ورو، ورو کشوي
او چې پوهیږي تیږه د دیوال په درز کې ښه کلکه
شوېده، نو د پګړۍ په نیولو سره لکه چوړ په
دیوال ور خیژي، آخو لږ دومره پورته داران
وینې، چې ګرځي او پورته کوي. خو شپږ درنګه نه
کوي، پګړۍ تر ملا تړي، او سري یو پام ته خېز
اچوي او ورو ورو بیا د هغه ځای ته ور اوړي او د
لږې شېبې له پاره د یوه تیاره دیوال له څوا ته
دریږي. بو پیره دار سپاهي د شپږ د ځان راڅوړ ځولو
آواز اوري، نا پوره تکلان څوري او په وار-
خطا بې او وېرې سره ځي او هغه بل سپاهي خبر وي
او بیا دواړه په ښارنه او لټه لاس پورې کوي.
خو کا که هم د وخته سملا وه تیاره نیولې ده. دا

دکاکه شیر خاصه ده چې د توپك جګړه یې نه خوښېږي. هغه عقیده لري چې د توپك په جګړه کې مېړانه او نارینتوب نشي ښکارېدی. ان دغشي ویشتل دکاکه شیر نه خوښېږي، ځکه دا هم له لرې، ویشتل کېږي. کاکه شیر ته د توپك جګړه د نامردۍ جګړه ښکاري او همه اسباب دي چې د هغه ټولې وسلې همداسې د لاس او ګرېوان جګړې د پاره دي. ان همدا اوس هم چې په بالا حصار راختلی، هم ټولې همداسې وسلې لکه پېش-قبضه، توره او سپلاوه ورسره دي.

سپاهیان لا هم د غږ د معلومولو په لټه کې سرګردانه دي، چې پدې کې ناڅاپه د یوه محافظ کاکه شیر ته پام کېږي او څه چیغه پرې کوي، شیر پوهېږي چې هغه پرنګی دی، نو ترڅو سپاهي ځان خوځوي، شیر په یوه خېز پرې حمله کوي او په خپلې سپلاوې یې سر له بدنه جلا کوي او تر ژبې لاندې وایي:

ـ پر نګیه خوږه! ته څنګه دا ته د زمرو په ځالو کې
شپې سبا کوې . . ؟؟

د دې کیش و کرپ په اوریدو سره په سنګرو دوه اتنه نور ګزمه سپاهیان هم د دوهمي ځای ته ځانونه رارسوي او پرنګی سپاهي په اسې حال کې په خاورو او وینو کې په شتید ووینی چې سر یې لکه د زرد کې په شیر تري قلم شوی وي. شیر د یوه دیواله خواته په تیارې کې تیارو لاړ دی، چې پدې کې اوری له دې دواړو څخه هم یو تن پرنګی دی خو بل یې کابلی او افغانی سپاهی دی. د شیر په زړه کې څه جوش او د وطن پالنې جذبه راپاریږي او دا وار پرته تردې چې هغوی دې و وینی خپل وار برې روښي کوي او په پرنګی سپاهي د اسې د سیلاوي پر له پسې ګوزار ونه کوي چې په دریم ګوزار هغه له پښو څو رغوي او له دې سره سم چې افغانی سپاهي غواړي په شیر د زه و کړي، د شیر دا ګوابش یې سر ترپا په لړزوي چې:

- پلار مې ګوره دزه ونه کړې . . . زه پر نګیان وژنم
چې زما او ستا دواړو دښمنان دي . . . چې تا بللی زما
او ستا په کور راغلی . . . ته نو څنګه په یو خوږ
پرنګي ما وژنې ، خو که چېرته ته دخاورې نوکر نه
او د هغو نوکر یې ، نو بیا را ته سمه ووایه . . . زه
حاضر یم چې له تا سره یې هم هغه لته معلومه کړم .
زلمي سپاهي د شېر په دې خبرې احساساتي او هیجاني کېږي
او په زغرده کاکه شېر ته وایي :
- پلار چې ماته په د پرنګیو نوکر نه وایي ! زه د خپلې خاورې
نوکر یم ، خو څه وکړم چې اوس په دې جېل کې اسیر
شوی یم . . . زه پخپله د هغوی وینو ته تږی یم او چې
د ا سې ده ، نو . . . اوس ته له دې ځایه ولاړ شه . . .
هغوی دې ونه سي ، چېرته ځان پټ کړه . . . چې هر څه

کېږي، کېږي به، خو ته څه!... وژني دې.!!

خو کاکه شیر په تېښته آواز او جګ دی لکه چې سپاهي ته وايي:

- څه ته په ما پسې مه ګرځه... ته ولاړ شه!

کابلي سپاهي چې له عجب وضعیت سره مخامخ شوی، سخت وارخطا دی، بیا هم د کاکه شېر د ویناچه په هغه مجبور دی او په بېړه یو ډول ترهېدلی او وارخطا روان شي. شېر هم د دیوال له سوړې او ته اوړي ته ځان مخامخ هغې ودانۍ ته رسوي، چې هلته دا میر د خوب ځای دی. سیخ په زینو پورته کېږي او د هغې خونې د دهلیز ته ځان ور رسوي چې هلته امیر یعقوب خان پروت دی، د دهلیز په سر کې د هغه خاص حاضرباش هسې چې پر یوې پښتې څوکۍ

ناست دی او تکیه یې کړی ده. څو ړند سر خوب دغه ستر ګې ور پټې کړ یدی. د دهلیز په سراو های کې دوه روښانه مشا لو نه لګیږی او دهلیز سر تر سره یو څه رو ښا نوی. شیر سیلا وه پیر ته تر ملا څړ وی او پیش قبضه له تیکي راباسی، ښې لوڅوی، پر مخ ځي او یا ورو، ورو دغې کوټې دروازه خلاصوی، چې دامیر دخوب کوټې ته یله در وازه لري. شیرداد روازه هم و رو خلا صوی او له نیم کښی در وازې څخه دامیر دخوب کوټه او دغې کو نجو ته ښه له نظره تیر وی په کوټه کې کراره کرا ری ده.

یعقوب خان دخپلې میر منې سره څه لږ څه پټ په خوا ره خوب ویده دی، ښځې یو نری ورېښمین اوږد کمیس چې منځه یې سر ترسره لکه چوښه خلا صه ده او ښکلی هو من پارو نکی اند امونه او سپین صورت یې ترې اوچته ښکاری اغوستی او لاد ځان له ډیر و برخو څخه یې دا ناز که کمیس .

همراهي شوي ، داسې ايسي چې هغې دې له امير سره تر ډېرو عياشۍ او مستۍ کړې وي او بيا دې خوب وړې وي .
د څو ورځې په دوه گنج کې يو ښکلې فانوس له پڼېکه او ضعيفې رڼا سره کوټه يو څه روښانه وي .

د ښځې د لوخړ لپړ ځان او بې سېر ته لويدو په ليدلو سره د شير له سترګو اوربڅري الوزي ، نو تر هر څه مخکې هغه قدېفه چې د هغې تر پښو لاندې سر وړل شوي پرته ده ، را اخلي او پر ښځې يې او اړوي. خو امير هسې پر مخې پروت دی او د باچاهۍ پر تخت بې غمه خو اږه خوب ونه کوي. کاکه شير هم نور درنګ نه کوي. يو وار وروو، ور و د تخت گرد چاپېره گرځي، خو په ډېرې خوا شينې وينې چې په تخت کې يو دانه غمی هم نشته .

اکه اريان پاته کيږي چې اوس نو څه وکړي ، يو ځل بيا د تخت څنډې او شاوخوا ښه له نظره تېروي ، خو پټې کې بې

ACKU

یو ناڅاپه د تخت خوا ته پر یوه مېز باندې د دوو ګېلاسو نو تر
خوا د ښځې ګاڼه تر سترګو کېږي، چې ښايي له ویده کېدو
مخکې يې ايستلې او هلته يې اېښې وي. نو دغو خوا ته
ورځي او چې له دغو ځنځېر د سرو زرو یوه ښکلې غاړکۍ راپورته
کوي، که ګوري چې څو دانې د پر ښکلې سره پر ښنده لعلونه
پرې لګول شوي، چې د فانوس رڼا ته لکه ستوري ځلېږي.
یو ځل يې زړه غواړي چې غاړکۍ په جېب کې واچوي، خو
دستي يې دا خبره په زړه ور ګرځي چې هغه خو غلا ته نه دی راغلی
بلکه یوازې غواړي څو دانې غمې یوسي، نو د خپلې پېش-
قبضې په تېرې څوکې باندې د غمو په راشکولو پیل کوي.
څلور غمې ترې راوباسي او چې کله غواړي بل غمی هم ترې
راوشکوي، ناڅاپه يې غاړکۍ پر ګېلاسو نو باندې له لاسه
لوېږي او د هر زنګ او پرنګ له آواز سره يې اسرهم
ناڅاپه تکان خوري، راوېښېږي او سر راپورته کوي
او چې کله يې سترګې په کاکه شېر لګېږي

نو سم د مېخپل ځای کېنی . خو مخکې تر دې چې څه ووایي

او یا چاته غوږ کړي نو کاکه شېر خپله پېش قبضه ورته سموي

او بیا نو په زغرده خو ټیټ آواز ورته وایي :

- پام یعقو به چې لاس له پښو خطا نه کړی او آواز دې

پورته نه شی کنه نو سر به دې قلم کړم . زه هغه څوک

یم چې په لسهاوو زخمي مې په تاد بندی په توګه پېره کړی

پوه شوی !؟ شېر یم شېر .. کاکه شېر اه !!

امېرسا بنده پاتې کېږی، نو هسې چې توره وره بېره یې له زني

سره د ژبا تې و پرې او وارخطا یې له امله رپېږدی او دواړه

سترګې یې شېرته برندې پاته دي پرې پرې وایي :

- ته . . . ته ، غل یې ! ؟

خو کاکه شېر چې لکه د زمری په څېر په ډېر ویار دهغه

سرپورې پېش قبضه په لاس و لاړ دی، ځواب ورکوي :

ـ نه یعقوبه ! ... زه غل نه یم زه په خپو دا نو غمیو پسې راغلی وم ، هغه مې و اخستل خو سالار ان هغه غار کې و انه‌خسته چې دا غمی مې ترې راوشکول . . . له ما نه دا غمی د پاچا د کور غمی چا غوښتی دی ، نو دا چې په هره بیه او هر څنګه چې کېده ما ورته پرا برول او دادی اوس مې ترلاسه کړل .

دا ښایسته غمی یوازې د کاکه شېر د محبوبې د غاړ کی و ړدی . خو زه یوازې په غمیو پسې هم نه یم راغلی ما له همسودې را هیسې غوښتل چې تا و ګورم . . . تا چې زموږ په ملک او ښارنی خا و ر ې له پر نګیا نو سره سودا بازی کړ یده . ته په دې پوه شه چې زه هم دا اوس هم کولی شم چې ستا له تېره غلطیول ساز کړم او د ملا متیا له دې شرمه و نکی ژوندانه خبه دې بېغمه کړم چې ته بې د پرنګیانو په مېو ری کې کو ی . . . خو نه زه

څو ارم چې یوه ورځ نه یوه ورځ تاپه تورسخ دخلکو په وړاندې د ځواب ویلو له پاره د ریدلی ووینم، ځکه نوستاد ناولې وینې په تو یولوخپل لاسونه نه ککړوم .. څو گوره یعقوبخانه! نور زه درنه ځم مگر پام چې څه خطری کار ته لاس ورنه وړی او که نه نو بیا به رانه په هیڅ قسم خلاص نشی.

د یعقوبخان نور زیون وهل شوی، گنگ او کلی، سخت ویریدلی او راوتاپ ستر گې کا که شورته بر ندې بر ندې گوری. څو کا که شیر په همدې خبرې هسې چې د بری په علامې د نری موسکا څېره یې پر شونډو کیښی، دهغه له کوټی راوځی او دروازې په هغه پسې تړی. که گوری چې شاو ـ خوا سخت شوراوزو ږدی، ان دومره چې دامیر صاحب خاص حاضر باش هم ویښ شوی او د حال دمعلو مولو لپاره بنکته شویدی.

کا که شیر پدې باوری کیږی چې ټول پر نګیان او دهغوی تالی څټی پرې خبر شوی او په هغه پسې گر ځی، مگر هومره بې پروانه کوی، ځپله توره د اوار له ملار اخلا ـ صوی او په احتیاط ډیر ورو، ورودد یوالونو تیارو ته له

دې ځای څخه ښکته کېږي. خو سم له دې سره چې غواړي بېرته د بالا حصار د ډبرين دېواله يو سم ځای ته ځان ورسوي، نو يو تن پر نګي سپاهي هغه وينې او په هغه پسې لالهانده سپاهيان نو ته يې د نيولو نارې کوي او پدې کې له هرې خوا څو تنه سپاهيان پر کاکه شېر يرغل وروړي، د يو تن او څو تنو تر منځ سخت اخ و ډب نښلي خو کاکه شېر داسې توري وهي، چې هلته پر هر يو سړي ګولي ګوزارونه کوي داسې چې په دا رنګه شېبې کې يې څو لا څو نه تر ښو لاندې او بېزي. سپاهيان پر کاکه شېر هم سخت ګوزارونه کوي، خو مګر کاکه شېر ته داسې واره ټپونه، ټپ نه ښکاري او له اصله ورته څه پام لرنه هم نه کوي.

چېغې او شور ماشور جوړېږي او په پای کې څو تنه سر تېري هغه را نيسي وسلې يې ترې اخلي او په کشولو سره غواړي هغه چېرته بوزي. خو د بالا حصار پر دار السلطنې د کاکه شېر ورختل او يرغل لکه د ډېرې قوي زلزلې په توګه ټول بالا حصار لړزولی، ان دومره چې کمنارې يې هم له خوبه راپاڅولي او بهر ته راوتلي دي. او سپاهيان هم د هغه له امره سره سم کاکه شېر هغه ته ور ولي. لکه دا چې هغه

ACKU

پخپله سپاهیانو ته ددې بېړا که زړور افغان د نیولو امر کړی وی. کمناری او نور لوړرتبه پرنګیان پرته له شه پوهـ ښتنې دا منی او باور کوی چې دا باتور حملې د کابل دخلکو په ملی مقاومت پورې تړلی مجاهد دی، خو هغوی ټول دې ته سخت حیران دی چې هغه څنګه په یوه سر په یوې دارالسلطنې یرغل راوړی او دلته یې د پرنګیانو په وژلو لاس پورې کړیدی.

کمناری په خپلو سترګو یوځل کاکه شیر سرتېری په د مشال رڼا ته په له نظره تېر وی، کمناری ته رپوټ ورکړ شوی چې کاکه شیر ملی مجاهد دی او چې هر ډول شوی د بالاحصار له دېواله را اوښتی او په یک یوځان یې اوه تنه پرنګیان وژلی او درې تنه نور پرنګیان یې له دوو تنو افغانی سپاهیانو سره سخت ټپیان کړیدی. کمناری هسې چې اوږدې شیبې هغه ته پر ندې پرندې ګوری، څه خبرې نه را-وځی. هغه هم دې ته حیران دی چې کاکه شیران د یوه توپک یا څه بلې تودې وسلې له درلودلو پرته څنګه دومره پرنګیان وژلی او ټپي کړیدی، خو په زړه کې کمناری پخپله هم چې کاکه شیر ته، مخامخ ولاړ دی، د شیر د میړنۍ او

هیبتناکې څیرې په لیدلو له هغه څخه یو ډول ترهه کوی او ویریږی، نو ترجمان ته وایی، چې له هغه څخه پوښتنه وکړی چې د څه د پاره راغلی؟

کاکه شېر په ډیرو یاړ او ږې پورته اچوی او په هسکې غاړې او جذبې سره وایی :

- زه دې ته راغلی یم چې تاسو پرنګیانو او ستاسو نوکرانو ته داروښانه کړم چې نور ټول افغانان ستاسو په راتلو خبر شویدی او نن وی که سبا ته تاسو سره په زانه میدان حساب کوی. ستاسو د خلکو پیغام راوړ-یدی. هو! ستاسو د ښمن نا خبره نه و هوتا سو بې دادی خبر!!

په دې خبرو د کمنا ری له څېرې هم رنګ تښتی او په زړه یې لړزه پریوځی، نو ترجمان ته وایی چې هغه ته ووایی ته په رښتیا هم ډیر تور زن یی، خو راشه له ملی سجا-هد ینو سره همکاری پریږده او دلته زموږ د پوه غټ منصب او په حیث درتبې او مقام خاوند شه!

موږ به تاته هر هغه څه چې غواړی در کړو.. ستا داد ننه چې توره او کار روایی زما سخته خوښه شوه..

او له دې پس به یوه مکر جنې خندا زیاتوی :

پر ننګیال کله له خپلو دښمنانو سره داسې دوستانه چلند هم کولی شی . خو کله چې ترجمان دا خبرې کاکه شهرته ترجمه کوی ، نو هغه کټ کټ خاندی او وایی :

- په دې داده اوسه چې هیڅ رښتینی افغان به ستاسو د مرئیتوب ځنځیر غاړې ته وانه چوی . تاسو موږ پر ملک یرغل کړی او لکه چې ښکاره دې وویل اوس یو د بل دښمنان یو . . .

موږ تاسې له خپلې پاکې خاورې څخه هر څنګه چې کیږی لکه چې په زور راغلی یی همداسې په زور بېرته شړو او ترهغو به مو تاسې بېرته له خپلو مبارزو لاس وانخلو چې لکه د پخوانیو جګړو په څېر مونږ ژواندی بېرته خپلو ملکونو ته و نه لیږو !!

کله چې ترجمان د کاکه شهر خبرې کمناری ته ترجمه کوی ، نو د هغه وچولی وارتر واره لا زیاتې ګونځې راوړی او سپینې ګردې چشمې یې په پوزې راښوئیږی . هغه پوهیږی چې دی هم له هغو کسانو او سپارز ښوونځه دی ، چې ژوندی پاته کیدل یې کیدای شی دا ننګریزانو له پاره د بېرسر خوږی پیدا کړی ، ځکه هغه ورسره لاره نه وړی او له خپلې خبرې نه اوری .

سره ددې چې پر دې خبرو د کمنارې زړه ډېر سخت
کاکه شیر ته پڅېږی، خو بیا هم گوره چې دغه. له پاره او
د کوم سیاست له مخې، د بالاحصار د امنیې قوماندان
ته وایي چې هغه اوس په هغې بندیخانې کې چې په بالاحصار کې
نوې جوړه شوې او څو تنه نور افغانان هم هلته بند-
یان دي بندي کړی. څو ترجمان لا د کمنارې خبرې نه وې
ترجمه کړې چې کمنارې په ډېره بېړه د خپل گارد له دوو
برچکو سپاهیانو سره د هغو انگرېزي عسکرو لیدلو ته ورځي
چې د کاکه شیر له خوا تېر باوژل شوي دي .

نژدې سپېده چاود مهال دی، د سباوون سره هوا چاپېږی
چرگان آذانونه کوی او په لرې افقونو کې یوه خفیفه
رڼا ورو، ورو پر آسمان راخورېږی، دوه تنه پرنگي
توپك والا، برچوك سپاهیانو کاکه شېر د زندان په لور
خوزولی دی، خو له بالا حصاره د وتلو پس یوې وړې
کوڅې ته له رسېدو سره سم کاکه شیر یوناڅاپه او ناببره
پر یو سپاهی حمله کوی او له خوبولی انگرېزی سپاهی
څخه په پوخېز توپك اخلی او څو چې هغه بل ځان خوځوی
نو کاکه شېر له توپکه د سوټی د کار په اخستلو سره

هغه داسې په تېر وهي چې توپک ترې لوېږي .

پرنگي سپاهیان چې د توپکو په لاسه ور گولو سره خپل مرگ حتمي گڼي، نو دوه څېلې او دوه پردې سخ په بالا حصار تښتي او کاکه شېر تر یوه ځایه هغوی پسې منډې کوي ، بیا ناڅاپه کښېني، په یوې گوښې کېږي ، یو توپک را اخلي او د پرنگي سپاهیانو په لور نښه نیسي ، او چې پدې کې نا بېره په منډو منډو کې یو د هغو نه یو ځل تر شا گوري ، نو داسې وېره یې پسې اخلې چې ته به وایې ، کاکه شېر په هغوی پاندې د ډزې گولو له پاره نښه نیولې وي .

خو کاکه شېر تر ډېره توپک هم پسې نیسي ، د اد هغه عادت دی چې دښمن په توپک نه ولي ، دا کاکه شېر ته نامردي ښکاري او چې وینی هغوی ښه لرې شول ، نو بیا هوایي ډزې پسې کوي ، د بالا حصار د دروازې محافظین هم څو پرې له پسې ډزې کوي ، د ډزو آوازونه د سباوون مهال په چوپتیا کې په ټول ښار کې انگازې خپروي خو د ډزو له غلې کېدو سره سم د نژدې جومات ملا د سبا د لمانځه له پاره آذان کوي او کاکه شېر پداسې حال کې چې پر شا دواړو مړوندونو او ښي وزانه پاندې څو ټپونه اخستي

ACKU

او لیکی لیکی توده وینه ترې بهیږی ، ځان جوماتته رسوی او ورننه وځی . توپك گو ښې بوې خوارېدی او بیانو په داسې بیغمه زړه لکه چې هیڅ نه وی شوی ، خپل زخمونه پخپلې پګړی سره تړی ، اودس کوی او دیوه میړه غازی په توګه له نورو مسلمانانو سره یو ځای د خدای په حضور دریږی اودوه رکعته شکرانه نفل هم ادا کوی . له دعا نه پس له صفه راولاړیږی ، خلکوته ځان ورپیژنی او هغوی ته تېر شوی حال وایی اود ډزو علت ورته هرگندوی ، پدې کې ملاصاحب داسلام اوافغانانو دېری او دکفا رواو پرنګیانو دماتی له پاره دعا کوی او بیا نو ټول لمونځ کوونکې د کاکه شیر تر شاو خوا راتاویږی ، ځینې یې په غیږ کې نیسی ، څوك یې مخ ښکلوی ، څوك مبارکی ورته وایی اوځینې هم شاباسونه ورکوی ، دوه درې تنه نور خپل ځانادرونه ورکهی چې ښه یې له ځانه تاو کړی ، توپك ملاصاحب ته په جومات کې پریږدی او هغه یې هم په یوه سم ځای کې پټوی . په همدې جومات کې مولوی صاحب دوه تنو ته وظیفه ورکوی چې په احتیاط سره ولاړشی او دکاکه شیر آس

دهغه کورته ورسوی . بیانو کاکه شیر دمولوی صاحب اونورو مشرانو او سپین ږیرو له پوځي لوبي ډلي سره له جوماتونه راووځی. که گوری چي پرنگي سپاهیان د تلاشی له پاره راوتلی دی او تولي لاري یي نیولي دی . خو کله چي هغوی ویني چي له جوماته راووتل، نویې له تلاشی څخه صرف نظر کوی . کاکه شیر ددي پیړانی له اسله اودمشرانو او سپین ږیرو ددرنښت اوله هغوی سره د خبرو کولو له پاره هغوی ته بلنه ور کوی اوهغوی هم په ډیری خوشحالی دسیاناری کولو له پاره د هغه میلمانه کیږی . کاکه شیر لههغوی سره د پرنګیانو په وړاندي دجهاد په باب اوږدي خبري اوله هغوی سره یولړ کلکي پریکړي کوی ، سره ددي چي زړه یي دامیر دغمیو دراوړلو پهخاطر له ډیري خوښی توپکي و هی اود یری خونداوخوښی دتپونو در دتري هیروی .

***     ***

له پرنگیانو سره د کاکه شیر دتوري اوجگړي او په یوه ځان دهغوی له بسته پوځ سره دمقابلي اوبری کیسي دکابل دزیاتو خلکو خولو ته لویدلی ، ان دملی

مجاهدینو تنظیمونه هم پرې خبر شوي او ځکه نو تر دې
وروسته کوم کسان چې د کاکه شېر له دې توري خبرېږي
هغه ته د کاکه غازي خطاب کوي . او که هغه هم دا دی
پوره یوه اوونۍ له دې پېښو څخه تېره شوېده، خولا هم د
کاکه غازي د مېړانې کیسې د ورځې له ډېرو تودو خبرو
څخه دي. خو پخوا له کاکه شېر یو څه زړه او بې پروا ایښول
دوکان کې ناست دی او لا هم د لېنټې د چمکۍ په
انډېښنه کې دی چې اوس د لعلو د پرښېښنده
څېو په لګېدلو سره څو چنده زیات له پخوا ښکلې شوې ده.

لوړ ماسپښین دی، خو نن له هغه سبارا هیسې یو لږ
څه سوړ او په زړه پورې باد لګېږي او دڅو توتو د رمن
درمن سیوینو سر گردانه وریځو سیوری کله کله د لمر
تودوخه یو څه کموي. کاکه شېر په چمکۍ خوله وروستۍ
خوا ري هم کړېده، خولا هم دا ده نه دی چې آیا هغه په د
کوچۍ لېنټې خوښه شي او که نه . . . نو هسې چې چمکۍ
یې په لاس نیولې، هغه ښایسته گل ته ور ښکاروي او
ترې پوښتي :

ښایسته گله ! اوس نو رښتیا ووایه چې چمکۍ ځنګه

شوه ؟. . لهبو هیڅ چې لا به هم د کوچۍ پېغلې خوښه شی او که نه ! ؟ . . . نن بې نېټه ده . . . پسې به راشی . . .

خو مخکې تردې چې ښایسته گل څه و وایي، د ښهر منځ کې د کوڅې په لارو برخو کې په هم هغې مستې مغرورې کوچۍ لښتې لگېدې چې داو ارله بوي پلې بودی کوچۍ ښځې او بوه پنځه شپږ گلان ماشوم سره په ډېر ناز او نخرو دمخه دد وگان خوا ته راروانه ده . کاکه شېر ته دغه منظره اونا بېره خوښی احساس پیدا کېږی ، لکه چې کوم دیر قیمتی شی یې موندلی وی، لکه چې په زړه کې یې دېوه پسرلی گلان راټو کېدلی وی او زړی باغیې په ناز نا ز نخوی او دعطرو دکې وږمې یې دکاکه شېر زړه او د ماغ تازه کوی . لښته دمخه دو گان ته را رسېږ ی خو بیا هم هغې پلو نیولې ، مگر په خندنی خیرې ا وخوښی سره دد وگان ترمخې درېږی ، خو مخکې تردې چې څه ووایی ، کاکه شیر په ډېر شوق او په موسکولې ډنې هغې ته و ا یی :

ـ لښتې استړې مه شی ... په خیر خورا شلی! ؟. .

لښته له ډېرې حیا بر یښنده تورې ناڅې داړې
سترګې څه شېبه ښکته اچوي او هسې چې پر تنکیو ګلاڼي
شوندو یې یوه خوږه موسکا غوړېږي او وایي:
ـ خوار مه شې . . . د چمکاني وړلو بسې راغلم . . .
او بیا د کاکه شېر د دادیني له پاره زیاتوي:
دا بوډی مې نیاده . . . په غوږ ونو څه شي نه اوري
او د اوړ کی مې هم کشري ورور دی یو څه لیون ترها
غونډې دی، په دې کې یو وار د پلو له څنډې غلچکې
کاکه شېر ته سترګې وراړوي، او د هغه مېړنۍ څېره
او جذابه په څه له نظره تېروي، او بیا نو په کراره او په
خاص ناز او مکېز سره شېر ته وایي:
ـ رښتیا زرګره! . . . زما نوم دې له کومه زده که؟
شېر ته حیا د ربړۍ او هسې چې موسکی کېږي،
سترګې ټیټې اچوي، خو مغروره لښته څپل پلو یو څه
د سترګو له مخې پر ته کوي او څه شېبه په غلاغلا خو په
مینه مینه شېر ته ګوري او بیا په موسکا سره ورته وایي:
ـ خو ګوره که د چاد نامه زده کول، څه په کار وي،
نو زما هم ستا نوم زده دی چې کاکه شېر زرګر

نو ستړی ... تازه موږ په چم ګاو نه کې ډېر خلک پېژني
. . ان زما مور هم خوشحاله ده تا ته ګاڼې اخيستې دي
همداغوږ والي مې هم ورور ته ستا له دېدو ګانه اخستی
د پېغلې د دې خوږو خبرو په اوریدو سره چې
کاکا شېر ته اکه د پلېلو د ریزاو چغېد و په څېر خوندور
اوز ږ ه را ښکو نکې ايسې ، شېر ته د کوچې پېغلې له
مز ه ناکه کتلو څخه پله سو دا لوېږی او له دې سره
د هغه په زړه د خوښۍ يو ه پله څپه را او ړ ی
او دا سې انګېر ی چې کوچی پېغله هم له هغه سره
ديارانې خيال لري . له ډېر ې خوشۍ بې موسکا پر
شونډو غوړېږی او لښتې ته وايې چې د د و ګان د قفسې
تر څنګ پر تختې کېنې ، او لښته هم لکه د اچې هغه دې
ست خوښتلو ته ستر ګې په لاره وه ، هسې بې پر وا په خپل
او ږده تېکر ې کې ځا ن ښه را نغا ړی او پلو نږولی د
قفسې ترخوا پر تختې کښېنې . بوډ ی کوچی هم چې ډېر ه
ستړ ما نه شوی وی ، دد و ګان ترخوا د بوالډه ډډه
لګوی او ماشو م هلک هم لکه چې نوی ښار ته راغلی وی
کله دې ځای ، کله هغه ځای ، کله دده خولې او کله
هم د هغه خولې ته حېران ، حېران ګوری او په خپله بې هم هر څه

ته خوله خلاصه پاته کیږی . پدې کې کله چه شیر چمکلی را پورته کوی او یو ډول زړه نازړه هغه په دوارو لاسونو پلو نیولې کوچی پیغلې ته ور واندې کوی او سره ددې چې نه پوهیږی ی کوچی لښته به یې خوښ کړی او که نه ، بیا هم په یو ډول خوښی او ویاړ سره ورته وایی :

ـ دادی لکه چې ویلی دې و ، دامیر صاحب د کټ غمی خولا څه چې د هغه د میرمنې دغاړ کی غمی مې هم راوړل او پدې چمکلی کې مې در ته کېنول . . . خو لا هم دړده نه یم . . نه پوهیږم چې ستا به خوښ شی او که نه ! ؟

دچکلی چمکلی سره برېښند ه غمی دلښتې ملالې ستر ګې برېښو ی ، سخت بې خوښیږی ی نو هـې چې په ډېر شوق چمکلی دشیر لـه لاسه اخلی په یوځه بې باوری شیر تـه وایی :

ـ ته ر ښتیا وایی ز ر ګـره ! ؟ دا د امیر صاحب د میرمنې دغاړ کی غمی دی ؟

کاکه شېر د هغې د ډاډ له پاره ورته د غمېو د راوړو کیسه کوی او د خپل ښي لاس د هغه یوټپ نښې پخپل مړوند باندې ور ښکاروی چې اوس بېرته په رغېدو وی . لېنه هسې چې چمکلی یې لا په لاس کې ده د خپل اوږد او تور ټېکري له پلوه کله کاکه شېر او کله د هغه د مړوند ټپ ته گوری . او ږ دې شېبې له ډېرې اریا نتیا څلی پاته کېږی او بیا لکه داچې د شېر مړانه د هغې هم سخته خوښه شوی وی او پرې ویاړی په موسېدلو شونډو شېر ته وایي :

- زرگره! ته په رښتیا هم چې د زمری زړه لری . . . تر زمری لا هم زړه ور یې !

پر دې خبرې بیا هم دواړه سره خاندی ، خو لکه داچې شېر لا هم ډاډه نه دی چې آیا دا چمکلی به په رښتیا د پېربښتې کوچی لېښتې خوښه شی او که نه ، نو ترې پوښتنه کوی:

- خوداو، یه چې خوښ به دې شی لاکنه . . . زه خو داسې گڼم چې که هر څه وی بیا به هم ستا د دې ښکلي صورت ورڼه وی . . . تالره هسې گڼه ښایي

چې ته پسرلي ښایسته شې . . . خومګر دا چمکلی به بیا زړې هغه وخت راته ښکلې ښکاري شي چې ستا په مرمرینې سینې وڅرېږي .

هغوی دواړه بیاهم سره غاړه دي ، خولښته شه شیبه پس هسې چې د پلوله غاړې شیر ته څېر ګوري په خاص مکیز تریې پوښتنه کوي :

- زرګره ! ستا په دې دوکان کې خو به دومره او به وي چې وي غښم . . . تیرې بم .

شیر یو ځل په دوکان کې آخوا دیخوا ګوري هغه هماغه شیبه مخکې خپلو دوو وړو شاګردانو ته څه سودا اخستې وه او هغوی یې کورته ولیږل ، نو په یو ډول آمرانه نظر ښایسته ګل ته ګوري ، خولکه چې ښایسته ګل هم په هغه یې یوه رمازه یوه شوی وي ، نو راپاڅیږي کوزړي ، را اخلي او هسې چې له دوکانه په ښکته کېدو ، د وه درې واره په غلا او تر سترګو لاندې د لښتې حسین مخ او جادوګر وسترګو ته ګوري ، څې چې له یورته چوماته لښتې ته تازه اوسرېاو بیراوري . اینتې او ګا که شیر ته د زړه دخواله کولوله پاره

څه فرصت بر ابر یېږی او لکه داچې نور نوځه زحمت نه‌وی ، دواړه اوږدې شپې په موسېدلو بڼو یو بل ته گوری ، خو شیر لکه چې ډیره شېبه دپلو له څنډې د لښتې د جادو گرو سترگو خوږو خوږو کتلو ته تاب نه‌شی را وړی او حما ، و ر ته در پدلې وی ، څه‌شېبه سر ټیټ اچوی .
خو لښته له پخوا نه د شپږ ښکلې او مېږنی ځیر ي ته په مینه مینه گو ر ی ، څه ایږ وچې داشیبه په د کوچی ایر پښتې په زړه کې څه ور گر ځی ، د هغې زړه په څه تر ي غواړی خو لکه چې نو ر نشی کولی او یاڼه غواړی ، خوله مینه د شیر د سردانه اوزړه راښکونکې ښکلې څیرې تراغیږې لاندې ترې پټه کړی بیا هم اوږدې شپې شېر ته گوری او داسې ورته په ځیر ځیر گوری چې ته به وایی په همدې کتو کتو کې له شېر سره د خوږی مینی او گډ خو شحاله ژوند اوله مز ورک ژوندانه خیالو نه او انځورو نه یې د ملالو سترگو په وړاندې تجسم موسی ا و گو ره چې دا یوه اونی به یې څه چر تونه د ځانه سره وهلی وی . لښته که څه هم چې وینی بودی نیابې کله نا کله تر سترگو لاندې د هغې څاو نه کوی، خو

په دې زړه ړاړه کوی چې هغه څه نه اوری او ماشوم
وړوړ خو بې په هيڅ نه پوهيږی. خو د کا که شير د
مينې بند یو ان زړه هم زور طاقت نشی راوړی، ان داسی
ور ته ایسی چې که هر څه کيږ ی ، ان څوك بې په
دې حال وينی هم ، خو چې يوه شيبه په ماړه نس د دې
نړ ی څوله ګلاو ډکی اخلې، ددې بيا بانی شا پير ی او
کو چې پير يښتې پيغلې د يدنو کړی . د ده هم په زړه
کې ډېر څه ګرځی ، خو ګوره چې دلښتی د څير څير کتلاو
سره هغې ته خنداوړ ځی او پوښتنی ئې :

- زرګره ځنګه داسې په څير څير راته ګورې . . .
مين شوی خو به يی ! ؟ . هغه څه ښه وا يی څې . . .
څنګه په څير څير راته ګورې - لکه څې نن دې په ما
خوار مينه راځينه ډدې پوښتنې د شير په زړه کې د هيلاو
ارمانو څوتی ګلان سوړی داسې ګڼی چې د ی په ژوند کې
دلوسړی ځل له پاره له داسې پښتنې کو چې سره مخامخ
شويدې چې تر ده ډيره زيا ته زړوره ده ، هغې څنګه وکړای
شول دا د زړه خبره په هغه دې ما ده کی په خوله وا وړ ی ،
ښکاره ده چې تر کا که شير هم زيا ته زړه ورتيا او جرئت لری .

ښایی کاکه شیر چې نشو کولی دا خبره ورته وکړی او دهغې له خولې دهغې خبرې دا ورېدو په تلوسه کېوه، په زړه یې نا ببره خواږه وورېدل، لکه چې دا صحنه په خوب کې وینی ، کاکه شیر هم سل زړونه یو کوی، په مزې مزېاو ورو ، ورو کوچی لښتې ته وایی :

- ... دهن څه چې جادو گر و ستر گو دې لیونی کړی یم لښتې ! ستا د دې تورو ښا دامی بر یښند ، ستر گو کتو ته دزمری زړه هم نشی ټینگیدی. . تا پخپل دې نازاین حسن سره په ما څه سخت جا دوو کړل چې ستا تر هغه یو ځل لید لو پس بیا تراو سه نه خوب لرم او نه مې آرامی شته . !

حیا نا گه لښته ستر گې ښکته اچوی ، دهغې په زړه کې هم ډیر خواږه خیالو نه سر را پورته کوی ،خودا سهال د کاکه شیر په زړه کې نا ښا په څه ور گرځی او لښتې ته وایی :

- رښتیا لښتې! واده او کو ژده دې شوی ؟

خولښته چې له هغه لوسړی سره ښایی دزر گرشیر

د مینه ناکو کتو په مطلب ښه پوه شوی ، هسې چې خاندی ، سر خوزوی او پلو نیو لې وایی :

ـ نه نه ! ګوږده او واده خولا پرېږده ځې لاد چا په نامه شوی هم نه یم ... د کاکه شیر په زړه کې یوې سترې هیلې ته د رسید و داډ ریښې ځغلو ی او له زیاتې خوښی څخه د اسې احساسوی چې جامې یې ورکې تنګې شوی .

خو لښته په یو څه شکمن زړه زیاتوی :

ـ موږ مالداره کوچیان یو ... پلار مې سلو خان ډیرې پیسې او شته لری ، خو دې ته زړه نه ښه کوی چې ما دې چا ته ور کړی ... هسې خو ډیر و خلکو غوښتې یم ...

خو شیر لکه چې د هغې سره تو کې کوی په یو څه جدی لهجې ورته وایی :

ـ خو که زه دې له پلاره وغواړم !؟

لښته نا بېره سر را پورته کوی کټ و هی او خاندی ، خو ژر خوله له خندا نیسی او هسې چې پر ندې پر ندې شیر ته ګوری یو څه چرتی کیږی ، څه انډ یښنه ور لوېږی او زړه نا زړه ډېره شېبه پلې خوا

ګوري. د دې پوښتنې په ځواب نه پوهېږي. ښايي هغې ته هم په ټول ژوند کې دا ډېره سخته پوښتنه ښکاري. خو چې کله که شهر ورته ګلکېږي ، نو لښته له يوه ساړه اسويلي سره ورته وايي:

- خدای پوه شه ... نصيب او قسمت خپل کار کوي.

کله که شهر يو څه ټکنی کېږي ، مګر بېرته بيايي د يوې امېد واره ونکی خوښۍ څپه پر زړه راا وړي او له لښتې پوښتنه کوي:

- رښتيا لښتې! ودې نه ويلې چې شهر ته موا ړولې دی؟

لښته اوږده شېبه شهر ته په شکمنو سترګو ګوري لکه چې څه د وېرې احساس دې کړی وي ، نو له يوې شېبې چوپتيا پس ورته وايي:

- د بادآسيا غونډۍ په لمنه کې مو مېنې دی..

هو د ځولو ته نژدې پراته يو...

ښايسته ګل بېرته راځي او په کوږي کې را اوړي او به لښتې ته ور کوی او پخپله د وکان ته پورته کېږي چې د اوبو د څښلو جام هغې ته ور کړي ، خو که

گوري چې هغه کوزړی پرسر پورته کوي. هغوی لا ښایي په جام کې‌دا و بوله ښېلو سره نده ی آشنا شوی ښایسته گل پخپل ځای کېښېږي او بیر ته پخپل کار سر ښکته کوي، خو کاکه شېر دا سې په ځیر ځیر لښتې ته گوري چې ته به وایې د هغې په صراحی غاړې کې‌داو بو هرڅړپ لکه د مرغلرو دانې ښه‌یري او یو ځل بیا د کوچی لښتې د بې‌مثاله آسمانی ښکلا په سین کې لاهو کیږي، لښته داو بوله ښېلو وروسته شکر کوي او کوزړی کاکه شېرته ور کوي بیا نو چمکلی را اخلی او شېرته وایي:

— ښه زرگره! زه نو ځم ... د چمکلی لاسې سې دې په دې دستمال کې غوټه کړی دی... دا درواخله بیگا مې تو لې په آبا شه‌یرلی دی... پوره دی!

کاکه شېر خاندی او لښتې ته وایي:

— د دې چمکلی بیه ډېره جگه ده ... ځکه چې هغه مې ستا لپاره جوړه کړی ... بیه دې پدې روپیو نه پوره کیږي ... نو پیسې دې وساته، بل څه شی به بې واخلې خو گوره ... که خدای کول نو

څلور پنځه‌و رځې پس ضرور مستاسو کوږدیو ته درځم او له پلار سره دې گورم ... بیا نو که وشوه هلته به دې وگورم .

د لښتې بر تنکیو بارخوگانو له حیا نه سره خاصه غوړېږي او هغسې چې پاڅېږي گاکه شیر ته په دې اډه یې سره وایي :

-بوغمه راځه ... موږ کوچیان د سیلمنو ډېر خیال ساتو ...

لښته په وچ زور گاکه شیر ته د چمکلي پیسې ورکوي او د پیسو پر ځای چمکلي په دستمال کې تاووي .. خو گاکه شیر له د پیسو په غم کې دی او نه یې چمکلي ته هم پام دی ، یوازې د لښتې په ژړ پاڅیدو سختیه تلو سره ورځي . لښته ور سره په سینه سینه خو یو ډول ژورې خواشینۍ سره مخه ښه کوي او له خپلې پوډۍ نه بیا او وار ه ورور سره د هغه له دوکانه روانېږي ، گاکه شیر هم ترهغو چې لښته په لوړ دې او له گڼې گونې د کې کوڅې کې به نظر ورځي پسې گوري ، څو چې یې له سترگو پناه کېږي .

* * *          * * *

لوړ ازدیګردی، خونږی او زړه تازه کوونکی باد چلیږی او د هوا تود والی کموی. کاکه شیر په خپل سپین خیالی آس سپور دی او ورو، ورو د باد آسیاڅو ته نږدې په لور پر مخ ځی. د هغه په زړه کې را زرازار اندیښنو سخت توپان جوړ کړی دی. په تیره بیا تر هر څه زیات هغه لیک کاکه شیر زیات چرتی کړی چې همدا اوس له غزني څخه د جنرال محمد جان خان وردګ له خوا ورته را رسیدلی دی او په هغه کې یې ورته لیکلی دی: «د زړه سره غازی کاکه شیرخانه!

له لوی خدایه دې روغ جوړ او بریالی غواړم. موږ چې دلته د پرنګیانو پر ضد ملی جهاد له پاره چمتوالی نیسو ستا له هغو توروا و میړانو څخه په ډیرې خوښی سره خبر شوو چې د هغو په نتیجه کې دې لویه غزا کړی او زیات شمیر پرنګیان دې مردار کړیدی... موږ د ملي جهاد مشران ستا د الوړ همت او افغاني هیواد پاله میړانه ستایو او د وطن پالنې په لاره کې ستا د لا زیاتو بریو هیله کوو او له تا غواړو چې د حاجی صاحب خیرالدین خان کوهدامني سره یو ځای د خپلې سیمې او چم ګاونډیو وطنوالو او خپلواکۍ مین ملي مړي سره راټول او د عمومي قیام د پیل کولو له پاره

وروستی پرېکړې ته سترګې په لاره اوسی. خدای دې مل شه.
دغازی محمدجان خان وردک له خوا. »

د کاکه شېرانو ښېګڼه له دې ده چې ښارانو دغه په اوږو د روند وطنی مسوولیت اېښی او پر هغه یې غټ اعتبار کړی دی. مګر کاکه شېر چې د هېواد پالنې او رېبې په رګ رګ کې وښې را تو دوی د دې لوی مسوولیت د سر ته رسولو له پاره ځان پوره چمتو ګڼی. کاکه شېر ښایی داوار له ځلیما نو سره د جګړې په ډګر کې خپله مېړانه و آزموېې فکر کوي چې دې کار ته غاړه اېښودل ورته هومره د روند کار نه دی او اوس هم په هغه دې داډ په دې لوری را خوزېدلی دی چې فکر کوی دا کار یې په وسې پوره دی او که خدای کول نو د ملی او وطنی دنده به هم په سر ښندنې او له ځانه تېرېدلو سره په ښه توګه سر ته ورسوی خو کاکه شېر دادی په یوډوله خپ ځپا نده حالت او شکمن زړه د لښتې دوی د کېږدیو په لور روان دی او کله نا کله یې لادا خبره هم په زړه ورګرځی چې که ښکلې لښته خدای د هغه په نصیب کړی، بیا نو که اندناولیو پر ننګیانو سره په غزا کې مرهم شی، نو ارمان به یې په زړه نه وی پاته. نو هسې چې د ځانه سره د راز راز چرتونو او خیالونو په تال کې

زانگې، د مسو روپا غونو، شنوکر و ندو، سپیر و ډاګونو او ځای ځای د ځینو کورونو، کلاګانو ترڅوا تیره شوی او پرده لاره لنډوی او چې بوخه نو رهم پر مخ ځی نوله لیرې بې په یوې ارتې دښتې کې د کوچیانو بې شمیره تورې ولاړې کیږدی ترسترګو کیږی چې له شاوخوا څخه بې کله کله د سپیو، وزو، غواګانو او آن سپیو آوازونه راځي. ځینې کډ چې ښځې او ماشومان او یو نوم نارینه د کیږدیو شاوخوا ته ایسته راایسته کیږی خو زیاتره نارینه د خپلو کیږدیو سیوری ته ناست دی.

البته هم هغه اخو شیبې یخکې د ماسوښین له پوره خواږه او خیالی خوب څخه بې خیاله راویښه شوی، او دمس بې کړی او دمازدیګر د لمانځه له ادا کولو پس بې دادی دلوی خدای دربار ته لاسونه پورته کړی او دعا کوی. خدازده چې هغه به پخپلې دې او پرده د دعا کې له پاك خدایه څه غواړی او څه هیله به کوی. خوسم له دې سره چې لاسونه پورته کوی، نوله لرې بې په پوه نا آشنا سپاره سترګی لګیږی. هغه سپور چې د نګه

او غوښوره وه، نری سپین کالی او چرمه کاری وا سکټ یې له توري پګړی سره هغه‌لا زیات ښا یسته ښکا روی او د پګړی لوړه شمله یې وروه، ورو نری باد ته رپیدی. خود سپاره وړه توره ږیره او نری چنګ چنګ بریتونه په دې باب دلښتې له زړه ښخی شك لرې کوی چې دا راغلی نا آشنا سپوردې کاکه شیر زرگر وی. نوغلی بوما شوم ور لیږی چې له نا آشنا سپاره د پوښتې چې څه غواړی. خو په لښتې هم عجب حال راغی، هم د شیر زرگر د لید واور ا تلو له امله هم خوشحا له ده، هم یې په زړه دیو ډول ویرې څپې اوړی راواوړی او هم یې دا اندېښنه زړه سره ز بیښی چې کاکه شیر به څه وکړی او سلو کاکا. لښتې پلار به هغه ته څه ځواب ورکړی،

کاکه شیر کیږد بوته څیرمه له آسه ښکته کیږی د ماشوم سره، ورو څه وایی، بیانو راځی او د سلو کاکا دلویې کیږدی ترخوا خپل آس دروی او پخپله د ماشوم سره ستخامخ هغې کیږدی ته ور ځی چې هلته سلو کاکا ناسته دی او خدا زده چې څه چرتونه وهی او د ځانه سره څه کری او څه ربې.

البته لاهسې چې له ځای نماز څخه نده را پاځېدلی ترستر گو لاندې قدم په قدم په کاکه شېر پسې گوري. بیا نورا پاڅېږي او په داسې حال کې چې زړه یې لکه پاڼه رپېږي او راز رازاند یښنو یې په زړه کې کوابې گډې کړي، داسې یو ډول بې واره او و ارخطاده چې نه پوهېږي څه وکړي. نه ناسته خوندور کوي او نه ولاړه ته به وا یې چې ځمکه یې تر پښو لاندې سو را ور گرځېدلی ده.

یو ځل هم څه بهانه کوي او د خپل پلار د کېږدۍ خواته ورځي او هسې چې ځان ناانگاره اچوي د خپل پلار او شېر د مړ کوا و خبرو اترو گوانگو سه اوري، خو سم نه پوهېږي چې هغوی څه سره و ایي. پدې کې سلو کا کا مېاهه ته د تروود راوړو له پاره غږ کوي خود البته د هچې تر هر چا ـ څخکې له مستو د که کټوه را اخلي او غوړ پلان پېروي بې په یوه شینکی کې او چوي او د یوه واره په لاس یې ور کوي چې له یوې کوهستانۍ پیالې سره یې مېلمه ته وروړي.

بیا هم اوږدې او درنې شېبې تېرېږی ، لمر ورو
ورو د لیرو غرونو د لړی ترشا پرېوځی او له ختیځ څخه
د تورې خړې لمنه ورو ، ورو پر شنه دنګ آسمان راښوئېږی .
پدې کې ناڅاپه په لښتې په زړه کې څه ورګرځی
نو د معمول سره سم پاڅېږی او د لوېې کېږدۍ ترخوا
چېرته چې د کاکه شېر سپین خیالی آس ولاړدی د مېږو
په لوشلو لاس پورې کوی. خو لا ډېره شېبه نه وی تېره چې
د کوچیانو د مېږو ، وزو او غواګانو د رمباړو په شور-
ماشور کې له لیرو کلیو څخه د ماښام د آذان غږونه راځی
او سم له دې سره کاکه شېر هم د لښتې له پلاره سره
له کېږدی راوځی او بوله پله سره سره مخه ښه کوی.
سملو کاکا ځای پر ځای خپل څادر غوړوی او د ماښام په
لمانځه درېږی او شېر هم د خپل آس خواته راځی . لښته
د کاکه شېر په لیدو هسې چې د بوې سېږې غولانځ له
ډیرې جذبې او هیجان څخه دامې سره سرو ړی چې د مېږې
رمباړې خوږی او چې وینې پلار یې پر لمانځه دریدلی
او کاکه شېر غواړی پر آس سپور شی ، نو نا بېره یو ځل
هغه خوا مخ اړوی ، هلو (غواړی چې کاکه شېر ته ځان

وروښي . دلښتې په ليدو دکا که ښير په ستر ګو سره
ښکره لوېږي ، ګوره چې په زړه کې به يې څه تېرېږي
ځايي هم داوسېږي ځل له پاره د نااميد يو په ډول درد يې
دستوني لاره نيسي . او کله چې غواړي بېخېل آس پښه
واړوي ، په کراره يوازې همدومره ښتې ته وايي :
ـ ښتې ! . . آيا دې نه راضي کېږي . . . مګر ته دومره
وکړه چې بل سبا دلمر خاته په مهال يو ځل ترهغې پورې
چېنې راشه ... هلته به سره وګورو ... او له دې سره
«خداي پامان» وايي او پر آس پښه اړوي . د ماښام په
دې تورې خړې کې د سپاره ښايسته او سېړني څېره ، له
سپينو جامو او شمله دارې پګړۍ سره لښتې ته هغه
خوږ او ښايسته خوب ښکاري چې په وينه او خلاصو
ستر ګو يې وينې او هسې چې لا يې هم لاسو نه د رسېږي غولانځ
سروړي ، څه شيبه کا که ښير ته ځير کېږي او چې
سم د هغه آس پښه اخلي نو لښتې ايله د سر په خوزولو سره
هغه ته دورتلو ډاډ ورکوي ، خو د دې له پاره چې څوك
پرې بدګمانه نه شي ، نو له شيدو ډکه پاتلچه راخلي
او کېږدي ته ننه وځي . زړه يې لاهم ناکراره دی ، خو

ACKU

چې لښته بهرته له کیږدی راوځي ، نو یوازې دیرلږي د شیر دچاپك آس دخخستو دوره ویني چې ورو ، ورو دلویدیځ له توري غرې سره حل کیږی . خونور چې هر څو گوري نو له توري غرې او زیاتیدونکي تیارې پرته بې هیڅ شی نه ترسترگو کیږی .

* * *      * * *

غرمه نژدې ده ، نن له سهاره کاکه شیر همدلته د تخته پل دجامع جومات دلوی سالون ددروازې ترخوا دخپل بوازیني زوی بهرك د فاتحې په کلمه ناست دی د کاکه شیر نژدې خلوبنت پنځه من تنو خپلو خپلو انوا وآشنایانوهم د مبارك جومات دیوال ته ډډه لگولی او ناست دی دقاری قرائت ته یې غوږ نیولی دی . چې کله دعا وشي نو ټول لاسونه پورته کړی او بیا په اشارو او ترسترگو لاندې کاکه شیر ته د تسلیت په توگه وگوری ، لاس په سینې کیږدی او دسر په اشارې هغه ته دادگیرنه ور کړی بیا نو خوتنه پاڅیږی او کاکه شیر یې مخې ته ولاړ یږی او هغو له خواخو ږی او غم شریکی څخه مننه کوی .
کاکه شیر هغه کوی چې دخپل پردی ، سیالانو او دوستانو

په وړاندې ځان پوه دول بې تو بره وهلی اودامې هغوی ته هر ګنده کړی چې دزوی په سر پنه ېې چندانې چرت ندی خراب، خو په زړه بې پوخدای خبردی اود غمو نو سيلاو ونه پکښې ځپې وهی، ان دومره چې کله نا کله زا بېره دژورو او ترخو خوا شينو لېکې ېې ان پر ځيرې دم راښکاره شی، خو سګر ژرېې ځان ته پام اوړی او په پو دول دزړه له سره موسکا سره غواړی نوروته خپله پښه غوړيدلی او بې تو اښره وښېی. آخر پرون همدا مهال هغه خپل د پېر ګلالی او دزړه تو ته زوی، پېر لکچې پرون سهار له بامه دزاځایی رالوېدوله امله سر شوخا وروته سپارلی و. توبک په هم هغې ورځې چې کاکه شپر له لښتې سره دپیالید ووعده کړی وه. د لښتې دلیدو تلوسه، ان پدې سختو غمجنو شېبو اوځوروونکو ترخو انډېښنو کې هم دهغه زړه سخت سره زېښی او دا چرت ورلوېږی چې آیا لښته به هلته راغلې وی؟ . . . ضرور به راغلې وی ! . . خو مره به ېې د کاکه شپر راتلو ته انتظار ایستلی وی او بیا به بېرته په خومره خواشينی او مات زړه ستنه شوی وی . هغه به خو مره د کاکه شپر په سپنې اووښا

شکسته شوی وی او د ا لوی غم به یې څنګه زغملی وی . . . ؟

خو بوازې ګله چې قاری صاحب دعا کوی ، نود کاکه شیر ددې تشو اوښورو نکو خیالو نواو انه پښتو سلسله سره شلیږ ی .

غرمه وارتر واره رانږ دې کیږی او جومات ته دغا تحه ور کولکو تګ را تګ کیږی ، او پدې شیبه په جومات کې چوپتیا خور یږی ، یوازې دجومات دا نګړ دتوتوبه یوې لوبې نې کې دناستو چوغکوزږه را ښکونکی اوخو شحالوونکی ریز بدې درله چوپتیا کې دڅه شیبې لهپاره په مزې مزې غوږو نو ته نوازش ور کوی .

له دې چوپتیا او فرصت له یه استفادې کیږې کسان یودبل سره پهغوږ ونو کې پس پس کوی او ځینې هم په ټیټ آوا ز او د سر او لاس په اشا ر و یو د بله سره دحال احوال پوښتنه کوی .

یدې کې ددې سیمې مشرا وسپین یږی حاجی صاحب خیر الدین خان چې تول خلکو رته زیات احترام او درناوی لری او کاکه شیر هم هغه له ځیل سکه تره څه کم

نه بولی، ځان کاکه شهر ته وروړانږي کوي او غواړي څه ور سره و وايي. حاجي صاحب چې له پوا زې د کاکه

شهر د کلا تر څو اکور لري او د هغه کاو نږدې با له شي، بلکه د څه شان په چټه کې هم د کاکه شیر دوکان ته نژدې د لنګۍ او قرصو خو لیو د پلو رلو دوکان لري. هغه د کاکه شیر د پلار حاجي زار- دست خان پخوانی او خوږ ملګری و، هغوی به تل یو د بل دو کانو نو ته تلل را تلل، زیاتره وختو نه به یې د شرمې دو ډی هم سره یو ځای خوړه.

یو ځای او یوه جوماعت ته به د لما نځه د اد ا کولو له پاره تلل او ان هغوی دوا ړه څو کاله مخکې یو ځای حج او مکې مدینې مبارکې ته هم تللي و، او دا سې حا جي صاحب کاکه شیر ته تر هر بل چا او خپل خپلو انو نژ دې ښکا ري او د خپل خیر او شر په معا ملو کې یې شر یك ګڼي او د مشر په تو ګه هغه پخپل هر کار او معا ملې کې مخکې کو ي. حا جي صاحب پر ون او نن دا سې د کاکه شیر د زوی د سر ونې په مرا سمو کې برخه اخستې لکه چې د هغه

خپل اولاد مړوی .. پدې کې حاجي صاحب چې سپینه
یا جګړې یې پر سر او پر سپینو کالیو او تور واسکټ
یا ندې یې خپل نخو دی رنګه ښکلی ښادر را تاو
کړی، د کاکه شپږ په ګونډې لاس پدی او ور و
ور وور ته وایی :

ـ ښه ورځا نه ! پاک خدای دې اجر ونه درکړی
خو د خدای په رضا کې څه ویل نه دی په کار . . .

را به شود ې ته چې پېدې . دوه ورځو کې چې موږ د ببرک
جان په مړینې او فاتحې کې مشغوله وو ، نو د ملي
قیام له پاره د تیارۍ نو لوغږ شوی او د مشرانو
هدایت را غلی دی . پرون شپه چې کله کور ته ولاړم
نو مور زامې فراز خان کاکا راته تو له کیسه
وکړه . همدا پرون افغانی سپاهیانو هم لویې خوځښت
کړی او حرکت یې پیل کړی دی .

هغوی د تنخواه د ځنډ په بهانې سپه سالار
داود شاه خان ته ورغلی، خو هغه ورته ویلي چې داد
پرنګیانو کار دی او موږ څه واک اختیار نه لرو
نو هغه وچې ناراضی سپاهیان پر بالا حصار وروختل

انګرېزانو د هغوی دا کار د ملي قیام د پیل کولو په توګه ګڼلی، د بېرېبند یان کړی او لا ګوره چې څو به یې وژلي وي، پرون چې کله د بېرك جان له جنازې پرته را ستانه شو، نو هغه د دزو غږ ونو ته څو دې پام واو که نه ؟

تولې دپرنګی سپاهیانو دزې وې. خو افغانی سپاهیانو هم هغوی ته ور ځواب ور کړی دی او څو پرنګیان یې وژلي دي. نو ځکه مجاهدو مشرانو دا پرېکړه کړې چې سبا ته به د کابل ټول خلك د پرنګیانو پر ضد خپل ملي قیام او جهاد پیل کوی ... نو دا ده چې ته مې هم خبر کړې چې سبا ته به ځان تیار وی . . . ځکه چې تا ته څو غازی خان « محمد ـ جان خان وردك» هم احوال را لېږلی و . . . ما څه ناڅه د کار ترتېبات نیولی او ټول کوڅه وال ځلمی او خلك هم مې خبر کړی . . . هیله لرم ای تهٔ دچې وکړای شو، په دې برحق جهاد د او غزا کې پرنګیانو ته ماتې ور کړو او هغوی ته یو ځل بیا پښتوانی سبقونه ور په یاد کړو .

دکا که شیر په زړه پوری ای خبر دی، خود حاجی صاحب
دا خبرې د هغه په زړه کې څه نوی اور لګوی، او په
ګرګه کې یې وینه راتودوی، د اسې چې ټولې اندېښنې
ئې هیروی، د غازي خان هغه خوښتنه ور په زړه کیږي چې په
لیك کې یې ده ته څرګنده کړې وه، زړه ته یې لویږي چې
سه کړه له سبا لا نو هغه بیرته پاتي شوی وی، خو ژر یې د حاجی
صاحب خبره په زړه را ګرځي چې قیام خو د خیره
سره سبا پیل کیږي، نو ترا وسه لا څه نه دی شوی او
لاد کار پیل دی. کاکه شور د حاجی صاحب د وینا
هر کلی کوی، خو چې کله غواړی له هغه څخه په دې
باب نورې څه پوښتنې و کړی، چې اوری قاری صاحب
د فاتحې د خلاصیدو له پاره او د قرائت پیل کوی.
ټول حاضرین غلي کیږي او د پاك الله د کلام اوریدو او
درناوی ته سرونه ټیټوی. په پای کې قاری صاحب
د خپلې دوعا په لړ کې هم سبا ته د جهاد له پاره د تیاری
په خاطر حاضرین خبروی او ښکاره د پرنګیانو پر ضد
د افغان خلکو د دې برحق جهاد د بریالی کیدو له پاره
دعا کوی او له پاك خدای څخه غواړی چې په دې

لاره کې دهغوی سرستندوی شي، حاضرین ټول د زړه په مینه او اخلاص ددې دعا دقبلېدو له پاره لاس پورته کوي او بیا را پاشېږي چې د کاکه شېر سره یوځای دهغه دزوی په خیرات کې د ګډون کولو له پاره دهغه کورته ولاړ شي .

***　　***

دمنۍ ورستۍ شپې ورځې دي، هوا په تېره بیا دشپې له لوري ښه سړه شوېده خو همدا چې په څو ساتو نوکې دسبا آذانو نه کېږي ، نو په ټول ښار کې دراپاریدلو او د پرنګیانو برخه دراپاڅېدلو او فغانانو دېو نا پایه او هیبتناکه شوراوزوږ ناري اوانګازې دکابل ښار په سړه هوا کې داسې تودوخه راولي چې هېڅوک نور څوك په سړو اوتودو پسې نه ګرځي . کاکه شېر چې لامخکې تردې یې ځان تیاراوه و سلو سمبال کړی دی پس له دې چې د خولې سور لاسونه پکلاوي او خدای پامانی ترې اخلي له کوره وځي . که ګوري چې ټول په ټول ښار ، په ټولو کوڅو او لارو لوزو کې د خلکو ، دملي مجاهدینو ډېره سخته ګڼه ګونه ده .

اوچې څو قدمه وړاندې ځي ، نو ګوري چې حاجي خیر-
الدین ګاګا لا ترې دمخه راوتلی او د څلور پنځو تنو
نورو مجاهدو زلمو سره روان دی ، ګاګه شیر هم تر
هغو پورې ځان ور رسوي او له هغوی سره یو ځای کیږي.
برغلیز چریکي ګروپونه په هرې کوڅې او هرې سیمې
کې بېل بېل سره تنظیم او جوړ شوي او بیا نو د ملي
مشرانو تر یوې واحدې قوماندې او د مخکنیو هدایتونو
سره سم په ټول کابل کې د پرزنګیانو پر تهانو
مورچو ، د استوګنځایونو او تم ځایونو باندې حمله
وروړي. په ټول ښار کې د «الله اکبر!» او «یا چهار یار!!»
داسې پر جوش نارې انګازې اچوي چې پر پرزنګیانو
لکه د توپ ګولۍ لګېږي او د هغوی په زړو او غږ و د
مرګونې وېرې تبه او لړزه راولي . حاجي صاحب
خیر الدین د خپلو پنځو تنو مجاهدو زلمیو سره د ننه
زري چې په دوهم خط کې پر بالاحصار باندې برغل
وروړي ، خو ګاګه شېر چې په بالاحصار کې
ښه بلد دی ، نو د حاجي صاحب تر نظر لاندې یوځوله د
ګروپ د حملې قومانده په غاړه اخلي او ورو ، ورو

ځانونه د لومړي ليکې مجاهدينو ته ورسوي او د «الله اکبر!»
په له جوشه ډکو نارو د هغو ودانيو په خوا چې هلته
انګريزي سفير «کمناري» او د هغه ملګري د افغانانو د تمام د
مقابلې له پاره سره را ټول شوي ، حمله کوي .

کمناري د ملي مجاهدينو د هغو نا پايه بهيرونو په
ليدلو چې د بالا حصار په خوا راد روسي ، سخت وارخطا
کېږي ، هغه هيڅ کله داسې نه وه ګڼلې چې افغانان
دې داسې ژر او په دومره زيات قوت سره د هغوی پر ضد
قيام وکړای شي ، خو اوس چې کار له کاره تېر دی ؛ نو
«کمناري» سخت پښېمانه دی چې کاشکې يې تر دې د مخه
نور هم ځونه رانغوښتي وای ، خو نور يې ټولو هيلو او
اميدونو له زړه کښه کړې ده .

هغه ځان د باتورو افغانانو منګولو ته لوېدلی
احساسوي ، سخته وېره يې پسې اخلي چې څه به ورسره
وکړي. خو «کمناري» لا هسې په همدې اندېښنو کې ډوب او
په رېږدېدلو پښو د خپلو منصبدارانو او پوځيانو تر
منځ ولاړ دی چې يو تن منصبدار يې ورته احوال راوړي
چې د ملي مجاهدينو ډلې د يوه لوی توپان په توګه په

بالاحصار را ننه و تلې او هیڅ پرنګی په هم ژوندی پرې نه ږدی .

د «کمناری» زړه لوېږی او پدې پې باور راځی چې افغانان به هیڅ یو غلګر پرنګی ژوندی پرې نه ږدی .

نو خپلو سپاهیانو ته امر کوی چې پر قیام کوو نکو افغانانو دزې وکړ ی .

سپاهیان په دزو لاس پورې کوی، خو تننه افغان مجاهدین په شهادت رسوی او څه شمیر نور هم ټپی کو ی .

خود تو پکو د دزو دا پرله پسې غږونه په هیڅ تو ګه نشی کولای ، چې د خلکو د (الله اکبر !) او (یاچهاریار ! ) آوازونه غلی او خپه کړ ی .

«کمناری» ته بیا احوال ورورېږی ، او ان هغه پخپله هم وینی چې دافغان آزادی غوښتو نکو مجاهدینو پېر لکه دزور سیلاو چې په ځوړو ځیژی پر بالاحصار راروان دی او دلته دی چې «کمناری» پخپل قطعی مرګ باوه کېږی ، نو خپلې ځونې ته ورننه وځی او مخکې تردې چې دافغان مجاهدینو لاس ته ولویږی ، خپلې کوټې ته اور ورته کوی او داشان ځان دلمبو ته ته سپاری .

د کاکه‌شېر گروپ پیدا سي حال کې چې تر سبا ماښامه دوه تنه پکې د شهادت جام ونه څښي، خو پدې بریالی کېږي چې د دې په مقابل کې (۱۲۱) تنه پرنگي پوځیان سردار کړي. دا گروپ سربېره پردې د دښمن د سلاح کوټو ته او د هغوی د مهماتو د ډیپو گانو په نیولو سره زیات بریالیتوب‌ته گټي، نو د قیام مشران په دویمه ورځ کاکه شېر ته د سلو تنو یرغلیزو مجاهدو د لویې ډلې قوماندانه په لاس ور کوي او هغه ته د دې جهادي ډلې د قوماندانۍ ویاړ ور بخښي. په دې کې د «کیوناری» او هغه د ډلې ټولې د له منځه تللو خبر انگریزانو ته رسېږي. نو په دې شرمونکې ماتې باندې په خبرېدو سره په ډېر غضب او شدت سره پراخ عسکري سوقیات کوي، په افغاني پولو را اوړي او زموږ په وطن یو پراخ تیری پیل کېږي. د پرنگیانو یو ستر پوځ د جنرال (رابرتس) «چې خلکو وروسته هغه ته له ډېرې کرکې راپټ کل وویلې» په مشرۍ د کرمې له لارې لوگر ته را-ځي او بیا له هغه ځایه د یو شمېر ځانځوښتونکو او مزدور صفتو سردارانو په سر سته او د سردار

ولی محمد چې وروستنه بیا خلکو ور ته په ډېرې
کړکېچ د(لاتی) خطاب کاوه په مستقیمې همکارۍ
د چهار آسیاب له لارې په کابل یرغل راوړی
او پس له سختو مقاومتونو او زیاتو ځانی تلفاتو
څخه کابل څه ناڅه تر کنترول لاندې راولی.
د یعقوب خان په کابل کی د انګریزې دې نوی
پوځ په رارسېدو بیو ځل بیا د مه غږ یږی. خو په
ډېرې بې ننګی سره ځان هغوی ته تسلیموی او
د هغوی د مرستو برسېره په غاړه کې اچوی.
مګر خلك خپلو حملو ته په انګریزانو او انګریزی
پوځونو دوام ورکوی او په هر وار او هر مورڅ
کې هغوی ته زیات تلفات وراړوی، ځکه نو
پرنګیان برته له دې چې د کابل په ښار کې عام
قتل پیل کړی، بله هیڅ چاره نه وینی. سره د دې
هم ملی مجاهدین چې اوس ورځ تر ورځې زیات
داطرافو نو خلك هم ورسره یو ځای کیږی د کابل
ژمرین ژمی په پرنګیانو لکه د سره اور لمبې هسې
په تاو او کړاو سره تیر وی. څه موده پس

، مستر سی مشر جنرال محمد جان خان وردک چې
خلکو په لهزیاتې مینې ورته «غازی خان» ویلې
کابل ته راغی. د کابل هیواد پاله سرتیری او
ملی مجاهدین ددې غازی د مشرتوب په مشوره تنظیم
او جهاد ته چمتو کوی. څو ورځې پس د «قلعه قاضی»
په سیمه کې د افغان مجاهدینو او انګریزی پوځو
نو ترمنځ لویه خونړی جګړه پېښېږی چې د هغې په
لړ کې د پرنګیانو پیاوړی او منظم پوځ نه له
راز راز وسلو سره د ملی مجاهدینو په وړاندې
ماته کوی. «غازی خان» د کابل د مجاهدینو
له مشرانو سره وینی او له هغو سره د پرنګیانو په
وړاندې د جهاد د بریالی سرته رسولو په باب
هر اړخیزه خبرې او سلا مشورې کوی او د مجاهدینو
د قوماندانانو سره د لیدنې کتنې په لړ کې، کا-
که شیر هم له هغه سره د مخامخ لیدنې او یا رسومی
او هسې چې او پردې شیبې د هغه د پلې د بریالیو
عملیاتو څخه ډیره خوښی کوی، هغه په جهاد کې
لازیاتې سرښندنې او تلوالې ته هڅوی او د ځینو

ځاینو عناصرو په یاب هغه ته ځانګړې
د ندې سپارې. غازی خان د اشان د کابل د قیام
له مشرانو سره له خبرو کولو او له هغوی سره د ګډو
تصمیمونو له نیولو وروسته د وردګو او غزنی
خواته خوزیږی چې هلته هم ملی مجاهدین د پرنګیانو
په وړاندې تنظیم او رهبری کړی. له بل پلوه د
انګریزانو بل لښکر د جنرال (ستوارت) تر مشری
لاندې کندهار ته راغی او دا ښار له کومې لویې
جګړې پرته ونیسی. بل انګریزی پوځ هم د جنرال
(برایټ) په مشری د خیبر له درې څخه په
تیریدو د جلال آباد ښار تر خپلې قبضې لاندې راولی.

پرنګی جنرال چې پوځ یې په کابل قبضه کړی او
فکر کوی چې افغانان به نور د هغه په وړاندې مقاومت
ونشی کړای، نو له کابل او د هغه له خلکو څخه د خپلو
شرمونکو ماتو په کسات اخستلو لاس پورې کوی، هغوی
د کابل ناسی او ښکلی بالاحصار ورانوی

او اور ورته اچوی ، د کابل مشهور ره چار چته په توپو نو نولی او ورا نوی یی اوله دې سره سم د کابل ښاریانو او په تیره بیا نارینه وو په علم قتل لاس پورې کوی د پرنګیانو سپاهیان د کابل ښار په با زار ونو او کوڅو کې ګرځی اوله هر چا څخه یو ښتنه کوی چې غازی یې ؟ نو که هغه ورته هو! ووایی سملا سه یې وژنی. پرنګی سپاهیان په هغو کسانو چې ګومان کوی د ملی مجاهد ینو څخه به وی ، بې پوښتنې هم وژنې کوی .

په کابل سخت ژمی تیریږی. خودا سا ره هیڅکله هم د ملی مجاهدینو جوش او تو دوخه دجهاد له پاره نشی سړولی. ورو ، ورو یو ډیر ښکلی پسرلی را رسیږی او په سمو غرو کې وا ورې او یخونه ویلی کیږی او دا وږو د کې نری لښتې هرې خوا به بهیدو را ځی دخواجه صفا او شهدای صالحین دغرو ډډې دا ر غوان ګلو نو په بخمل پټیږ ی او یو ځل بیاد پر نګیانو په وړا ندې دجهاد کولو له پا ره د کا بل خلک نوی سا اخلی او په لا زیات شور او بیا وړ ی زور خپل مقاومت و نه او پرنګیانو با ندې یرغلاو نه پرا خوی .

ګاکه شیر اوس د کابل د ډیر و ښو او هیو اد پالو ځوانانو اوان یو شمیر نور و ګاکه ګانو په ګډون دیوه پیاوړی معمار یوی ډلي مشر ی په غاړه لری.

اوس نو دوستا ن او آشنا یان هغه ته ګاکه غازی او غازی شیر خان وایی، پدې کې ملی مشر او نامتو مجاهد ملا مشك عالم اندړ ګاکه غازی او نور مجاهد مشرا ن ورغوا ړي او هغوی ته دملی قیام د پیل ګولو په باب هدایتونه ورکوی او پخپله غزنی ته ځی او هلته له محمد جان خان وردك سره یوځای کیږی او د مجاهدو غاز یا نوله یوه لوی پوځ سره بیر ته شیخ آباد ته راځی.

د مجاهد ینو د ا پوځ بیا هم په قلعه ء قاضی کې د (جنرال را برتس) له پوځونو سره مخامخ کیږی خو دا وار ملی مجا هدین په ډیرې میړانې سره پرنګیا نو ته داسې ماتې ور کوی چې هغو د تیښتې لاره ترې ور کیږی.

یوازې دو مره چې ځینې نوکر صفته عناصر له خلکو سر ه په تګی کو لو (جنر ا ل را بر تس) او د هغه له پاته محدود پوځ سر ه د و مر ه مر سته کو ی چې د شیرپور کلاته پناه یوسی او هلته ځانونه زندانی کړی.

دا سرسته که څه هم په پټه سرته رسېږي ، خو مجاهد سرتېري هغه کشفوي ، نو د قيام مشران فيصله کوي چې د کابل که ښهر د مجاهدو گروپ دې د لاس پوځي سردار ولي محمد لائي کور ته ور واچوي او مال دې تالا کړي ، دا ماموريت هم سرته رسېږي ، خو پخپله مزدور سردار تښتي او د پرنگيانو چهاونۍ ته پناه وړي .

د کابل خلک بيا هم په هره سيمه او هره کوڅه کې په پرغليزو د لو کې سره تنظيم کېږي او د تمام اوله پرنگيانو سره د مخامخ جگړې له پاره تياري نيسي . ورو ، ورو د کابل ښار له څلور و خواوو محاصره کوي ، وار خطا شوي انگريزان چې دا حال ويني نو له دوه تنو نورو مرتجعو سردارانو يا جاخان او محمد شاه خان سرخابي سره اړيکې ټينگوي او هغوي ته څرگندوي چې که تاسو عمومي حملې له ډېل کېدو څخه مخنيوی وکړ ، نو يو صندوق سره زر به درکړل شي . دا خيانت د دې سبب کېږي چې په ټاکلي ورځ د قيام په ډېل کولو کې ځنډ پېښ شي ولاس پوځي سرداران کوم د سرو زرو صندوق چې ددې په بدله

کې له منافقو او حیله گرو پرنگیانو څخه ترلاسه کوی
هغه هم توڵ له تیرو او کو دړو څخه د ک و ی چې هر
سړیې سازی دسړو زرو په شان پانې ایښودل شوې وی.
له دې فرصت څخه په استفادې پرنگی پوځونه یوځل بیا
د ښار حاکمه سیمې نیسی او له هغو څخه پرملی مجاهدینو
او خلکو پاندې برید کوی او بیدر یغه گولی پرې
اوروی . خو ملی پوځونه خپل زړور مقاومت ته دوام
ورکوی . د اشان جگړې او مقاومتونه اوږ دې مو دې
روان وی ، څو چې یوځل بیا ملی مشران د ملی مجاهدو
شاه زلموزړه ور پوځونه تنظیموی او د انگر یزانو په
وړاندې ډیر متر قیام پیل کوی چې د هغې په لړ کې
افغان مجاهدین له انگر یزانو څخه خپل پو ره بو ره
کسا تو نه ا خلی او هغو ی ته ډ یر سخت او نه جبیره
کیدو نکی ځانی او مالی تاوانونه اړوی او خبره دې ته
رسیږی چې پرنگیان د خپل خلا صون له پاره له افغان
خلکو سره خوا خوږ ی او ښه چلند پر مخ و نیسی او له
خلکو سره ژبه و کړی چې ډیر ژر به له افغانستان څخه
ووځی . یوازې دو مره چې دا.ې یو څوک پیدا شی چې

دافغانستان اداره په لاس کې واخلی . ددې د پاره مناسب سړی سردار عبدالرحمان خان و بنی ، نو هغه راغواړی . عبدالرحمان خان څه موده پس پداسې حال کې چې لا هم دافغانانو او پرنګیانو تر منځ دلته او هلته خونړی جګړې روانی وی ، کابل ته راځی او د خپل امارت اعلان کوی . انګریزان د هغه امارت په رسمیت پېژنی او فیصله کوی چې له افغانستان څخه ووځی . خوشنګه چې د کندهار ښار لا د هغوی په لاس کې وی نو په ډېرې بې شرمی له امیر څخه غوښتنه کوی چې کندهار بلوچستان او د پښتنو قبایلو سیمې دې انګر-یزانو ته ورپرېښودل شی ، امیر ظاهراً له هغوی سره موافقه کړی ، مګر مستر هیواد پاله مجاهد سردار-محمد ایوب خان چې تر دې مها له بې په هرات کې دافغانانو یو ډېر لوی پوځ جوړ کړی ، پر کندهار حمله کوی او دمیوند په دښته کې ددواړو خواوو ترمنځ ډېره لویه او تاریخی جګړه پېښېږی چې دهغې په نتیجه کې پرنګیان ماته خوری او قطعی ژمنه کوی چې انګریزی لښکرې به ډېر ژر له افغانستان څخه ووځی . پدې

ACKU

تو که افغان سیږ نی او هیوا د پا له خلک یو ځل بیا انګریزی یرغلګرو ته ثابته وی چې هغوی تر خپلې ور وستی سلګۍ هم چې وی له هر یرغلګر سره مقابله کوی او تر هغو آرام نه کیږی چې خپل دښمنان یې په تور مخ له خپل وطن څخه نه وی شړلی او د اشان د افغان او انګریز تر منځ د افغانانو د خپلوا کۍ غو ښتنې د و یمه ستره جګړه هم د انګریزانو په بشپړې او تاریخی ماتې پای ته رسیږی .

*** *** ***

نور نوله یرغلګرو پرنګیانو سره خونړۍ جګړې پای ته رسیدلې دی . د کابل ښار حالت بیرته ورو ورو مخ په عادی کیدو دی . خلک په ډیر و یاړ او سر لوړی بیرته خپل عادی ژوند او کار روزګار له سره پیل کوی . خود کابل ښار زیاتې مهمې او تاریخی سیمې اوآبادی ورانې شویدی، د کابل ډیره ښکلې او مشهوره چار چته ړنګه بنګه شوی او له تاریخی او نامی بالا حصار څخه هم یوا زې دخا ورو او ا مرویوه ډیری پر ځا ی پاته ده. خود زر ګری چتې ته سره

ددې هم هومره زيات تاوان نه دی رسېدلی.

اوس نو کاکه شهر يو له مخه نوی نو غازيانو ښخه دي چې له دې ټولو جګړو څخه يې سر سلامت وړی دی. دغه د چپلاس مړونه چې په جګړو کې د ګولۍ د لګېدو له امله مات شوي و، هم دا دي وړو، ورو ورو ترمیم شوې. د کابل په ښار يوې ډېرې ښکلې او په زړه پورې پسرلنۍ ناوې له خپل ټول ساز او سينګار سره خپله رنګينه لمن غوړولې ده. روح پرور او عطر ناکې وږمې زړونه تازه کوي او هرې خوا ته د غرو له ويلو شويو اورو نرۍ نرۍ لښتې رواني دي. خو روزګار او د دغه غمونو او کړاوونو د کاکه غازي طبعه ډېره بدله کړې ده، هغه اوس لويه او بېره ډېره او اوږدې ښې لري، سخت چاق نه ښکاري او هغه ګوی چې له نورو ګوښې وي. خو ددې سره سره لا هم د لښتي، د کوچې پر لښتې از د پښنه دغه له زړه نه ده وتلې. دغه او لښتې له وعدې تر اوسه پيا شتي څه چې ګلو نه تر شوی. خوچه ور ته دی هغه زړه چې لښته هوره کړي. کاکه شېر که څه هم چې اوس خپل دوکان ته ځي، خو لاس يې چندان په پخوانی شوق او شور کار ته نه وړاندې کېږي. بوچلم

ACKU

یې ځان ته په دوکان کې ایښی دی چې هره شېبه یې سرخانه تشوی، بیایې ډکوی او په اوږدو اوږدو کشونو سره یې څکوی. دغه په ماغزو او افکارو کې داسې څه سر موزه شان چرتونو او خیالانو ځاله نیولې ده چې هیڅ هغه له د ننه خوری.

ډېره موده پس کاکه غازی یوه شپه په ښکلې لېوه په خوب ویني، خو سخت عجیب او وېرونکی خوب وي. لېوه ویني چې د کېږدۍ د یوتر منځ څو سپیو را تاو کړی وي خو اې ور اچوی او حملې پرې کوي. خو هغه ورسره په ډېره سختۍ مقاومت کوي او سپي نه پرېږدي چې هغه وخوري، په دې کې یې یو ناڅاپه په کاکه شور ستر ګې لګېږي. نور غږ کوي او هغه خپلې مرستې ته ور بولي. شېر هم لکه زمری ځان ور غورځوي او سپي ته یې داسې غوسه راځي چې ان یو یو له ښو نیسي، پورته کوي یې او پر ځمکې یې ولي او سم له دې چې غواړی له سپیو ژغورل شوی لېوه له لاسه ونیسي او خپلې کېږدۍ ته یې ورسوي چې ناڅاپه یې پښه په څه شی لګېږي له دې سره سخت ټکان خوري او را ویښېږي:

ـ عجب خوب مې و لید ... لېښته؟ ... هغه چېر ته وه ... چېر ته به وي ، وخه به کوي؟ ... څه به وایي؟ څو مره به مې پر کښې ... ؟ ا و زه په ر ښتیا هم چې سخت ور ته پریم ... البته ها؟ !

دلښتی په باب د تونه سوداګانې او اندېښنې هغه مر، د کاکه غازي په زړه کې پرسېږي او لوېږي چې په پالی کې د پېره موده ور وسته کله چې د سنی شپې ورځې رار سېږي کاکه غازي د خپل نا کرار ، زړه د تسلی له پار ، د دوه عجیب تصمیم نیولوته مجبور روی . داسې چې پریکړه کوي چې راشه یو محل څود لښتی دوی تر پخوانیو مېنو ور شه، گوره که بې وو یدې، گوره که لاهیڅ نه وی شوی او گوره که ... بیا هم کاکه شه ر ته تکی خوب نه ورځي نو چې کله سپېدې چوی، کاکه غازي هم له بستره را پاڅېږي، ژر ژر اودس او لمونځ کوي او بیا نو پر ته تر دې چې په کور کې څه احوال ورکړي دی پخپل آس پښه اړوي او هغو سیمو ته ورځي چې د پېرې موده پخو الهاسته دلښتې د پلار مېنې وې . څو چې کله هلته د یوې چمنې خواته رسېږي نو گه گوري چې لا هم په هغو پخوانیو مېنو کې د کوچیانو پښه ره کېږدی

ولاړې دي . هغه پوهېدې ، وهړی چې له دې ځایه وړاندې
تلل به ورته په ډېرې خطرې او لوړې بېې تمام شي، او هیڅ
به هم په لاس ور نه شي. ښځتني حیا او نزاکت هم له دې ځایه
د کاکه شېر د زیاتو سختې تلـلو خنډ کېږي .
خوږ ریږدې ته پام کېږي چې په کوچیانو کې یو ډول ګڼه
ګونه ده. داسې ایسې چې کوچیان خواږی له دې ځایه کوچ
وکړي تول آخوا او دېخوا ګرځي، څوک کېږدی راټولوی
څوک اوښان و باندې بار وونه کـلکوی او څینې ښځې هم مشکونه
منګي، منګوټي او ځګونه راخلی او زاځې له هغه دې چینې څخه
یې ډکوي ، چې مه کړه په لار کې بې اوبو نه شي .

میږې، وزې، وزګوړی، وریان او غواګانې رمبارې
وهي او د کوچیانو له شوراو زوږه که فضا لاپسې تودوی.
دلمر ځلانده ستر ګه هم دوړینو تنکی د اوچتو غرو تر
شا سر راپورته کوی او په ډېری آرامی خپل زرین شادر
پر شاو خوا میږو خوروی. کاکه غازی ته ان هم دا هم
ښه نه ښکاری چې د چینې تر څوا انتظار وکاږی او د کوچیو
ښځو در اتلو او له چینې څخه د هغوی د اوبو رلو ننداره
وکړي. نو ځان ته یوه بهانه ساز وی له آس سره چینې ته ور—

ACKU

ښکته کېږي او د هغه د ډوډۍ پریو لګولو مشغولوي.
خو لا ډېره شېبه نه وي تېره شوې چې وینې خوټنه کوچۍ
ښځې له خولو ځګو نو او مشکونو سره را ځي چې
له چینې اوبه یوسي. خو چې کاکه شمر وینې چې هلته د چینې
ترڅوا خپل آس وینځي، نو ډېره شېبه یوې خواته دریږي
آیا د هغو تر منځ به لېښته نه وي ؟
خو کاکه غازي چې د پښتنو کوچیانو په دود دستور ښه
پوه دی، د کوچیو ښځو په لید لو سره نور درنګ نه کوي
د خپل آس جلو په لاس له چینې راخوږي او څه لرې له چینې څخه
د یوې دامې پر شي ترڅوا دریږي چې چینه او کېږدۍ ورته له
لرې ښکاري. د اوار کاکه شیرخان د خپل آس په وچولو او
پاکولو مشغول وي. وینې چې ډلې ډلې کوچۍ نجونې او
ښځې چینې ته راځي او اوبه وړي .
کاکه شیر ته د اسې ښکاري چې له هرې خوا د ښتې، د
د ښتو او ډیالانو ددې سرغړ اندې ښه ډېری د سینې بوی
پرې لګېږي خو هغه په خپله نه موهي، لکه د اینځر ګل، لکه
چې ویلي یې دي: ما ته دې ځان د اینځر ګل کړه بوی دې
راځي ګل دې په سترګو نه وینمه. کاکه شیر که هرڅو تر

سترګو لاندې څو څو وار . هغوی ته نظر کوی خو پدې څو ډلو کې لښته نه مومی . هغه لښته چې یوځل بیا هغه ته په سینه او مونږید لې ښه د پلوله څنګه یې سترګې ور واړوی او دلویو غمونو ملا ماتونکې ښتمي یې له زړه سپک کړی . یوازې په یوې کوچی بانډې سخت ګومانی کیږی ، د هغې هم لکه د لښتې او د چناری ونه وی او هغه هم د نورو ترمنځ په ډیر ناز او مکیز قدمونه اخلي . کاکه شیر د ځانه سره په زړه کې وایی : ښایي هغه لښته وی . . !؟ زه نه خدای مې که هغه بیا وو ینی . . !
خود هم ډیره لښتې ته ورته ده .
د کاکه شیر زړه غواړی چې هغوی ته نژدې ورشی . خو پوهیږی چې دا کار باید د پښتونولی له اصلو نه کړی ، ځکه کوچیان په ناموس داری او د ناموس ساتنه کې د ډیره سخت چلند دودلري . خو ګوره چې دا مغرور . کوچی یوځل پاس هم نه ګوری . . ځکه نو د کاکه شیر زړه ته لوېږی چې لښته نده . . څنګه کیدای شی چې هغه لږ ترلږه په یوځل تش کتلو د هغه سترګا وو ته د مه ورنه کړی ، نو لښته نه ده . .. تر دا منځه ورو ، ورو د کوچیانو قافله

او کوچ تېرل کېږی. نورې کوچی ښځې د اوبو پسې هم
نه راځی او شېبه پس کوچ سړی نېسی او روا نېږی. کوچ
په هغې لارې روا نېږی چې ترخوا یې کاکه شېرخېل
آس درولی دی او پخپله ورته په یوې ښتې یاندې په
خاورو ناست دی او چې کله هم د کوچیانو د قافلی
زیاته برخه تېره یږی، یوازې له لرې د کاکه شېر
یوې دنگې خونړی کوچی ته پام کېږی، چې د خپلو
اوښانو پړې یې نیولی خو چې هر قدم پرمخ ږدی، نو لکه
داچې سخت بې خه شی ته زړه ختلی او پرېشانه وی یا هم
ډېر عزیز څوك تری پاته کېږی، بې واره یې وا ره هسې لکه
اښته پلو نیولې ترشاشا گوری. گوره چې د کوچی به څه
ته داسې زړه ختلی وی. !؟ ښایی هم اښته وی . .
چې د خپلې مینې په لیونی پسې، په کاکه شېر پسې چې
داد ی دلېنې لیونیو خیالونوا ونه صبرېدو نکې مینې ان
دلته رالا لهانده کړېدی، داسې ختلی زړه او یې واره
ترشاشا گوری. څو یوه شېبه پس هغه هم داوېده کوچ
دځنځیر د یوې کړی په توگه د نورو ترمنځ د کاکه شېر
له سترگو پنا کېږی، او کوچ له نېژدې سموڅخه اوړی.

***    ***

داوړی تود موسم دی ، تود وخت دومره زیاته ده چې نه یوازې په ورځ کې د چاو رته طاقت نشي رأتلای ، بلکه د په شپه کې هم دامې ناپلا وتف باد دی چې نفس ترې په سینه کې بېرته بېر ته وهل کېږي زیا تره خلک له کوټو څخه بهر پر بامونو سو پراو دالانونو ، کې ویده کېږي ، خو هغه کسان چې په کوټوکې پریو وځی ، نو هم هر ومره و کړکی ګانې دروازې او رو شندانو نه خلاص پرېږدی.

او کاکه غازی چې عادت لري که هرڅو مره ګرمی هم وي په کوټه کې د ننه پریو وځی ، د خپلې بالاخانې کوټې دروازې او کړکی ګانې یې ټولې خلاصې کړېدی ، بیاهم د خپلې بسترې د پاسه پروت او بو ځادر یې په ځان راغوړولی دی ، خو داچې پرې مودې و شوې چې نور خوب د کاکه شیرله ستر ګو تښتېدلی دی. پخوانۍ د خوب ځای کی اړخ په اړخ اوړی ، کله په یوه چرت کې زانګی او کله یې هم پلمه اندېښنه دو بوی. خو هغه ته د

سپوږمۍ په شپو لکه دا نن شپه چې ده ، عجیبه خوږه
او په زړه پورې مشغولتیا پیدا شوې ، هسې چې
اوږدې شپې د سپوږمۍ سپینې ټیکلې ته په ځیر ځیر ګوري
نو هسې د انبتي ګرد مخ او سپینه څېره د بلندې سپوږمۍ
پر مخ ورته تجسم موسی ، نو له هغې سره د راز و نیاز
خبرې او مرکې کوي . کله هم را پاڅېږي ، چلم وهي او
شنې تورې لوخړې یې له خولې راخېژي ، لکه چې
د ده په زړه کې کوم بل شانې زورور لمبې وهي
او شنه دودونه او تورې لوخړې یې هغه له خولې
راوځي .

نن شپه هم د کاکه شېر د وه سترګې هغې سپینې او
دخوار لمې شپې سپوږمۍ ته پاته دي ، چې د ونو د څانګو او
پاڼو نو له منځه یې په ډېرې سختۍ د کاکه شېر تر سترګو
ځان ته لاره ایستې ده ، کاکه شېر ته هسې ښکاري چې
هلو لښته ور ته مخامخ ولاړه ده او د څانګو او پاڼو د پلوله
هغې و هغه ته ګوري ، کاکه شېر له ځانه سره په هغه ډول
خیالونو کې ډوب دی چې ناڅاپه د لوښو د غږ په څېر
څه غږ او رېدله خپله ځایه نیم خوږه کېږي او له کړکۍ

څخه انګړته ګوري، چې ویني کوم غله د هغه د کور زیات مالونه په خپل څوریدلي څادر کې سره کوته کړي چې ویې تړي. د کاکه شیر غله ته سخته غوسه راځي، چې د هغه د خپلو او نورو نیاګي یې ورته ګټه وده کړېده. خدازده چې په زړه کې څه ور ګرځي چې پخپلوا عصابو کنترول له لاسه ور کوي خپله پیش قبضه را اخلي او په غله د پیش قبضې په وارونو سره حمله کوي او چې څو هغه مخ را اړوي نو دوه درې چړې ور اچوي، چې پدې کې ناڅاپه د غله له خولې دا ناره خیژي چې:

- آخ ظالمه!.. وا ده دې راته نیمه خوا کړ ناوې دې راته کونډه نه کړه!!

پدې خبرې کاکه شیر تکان خوري او د هغه له وهلو لاس نیسي، غل چې له ټپونو څخه یې لیکه لیکه وینې رابهیږي، له دواړو متو یې نیسي او ورته وایي:

- څه شي؟ ناوې مې دې کونډه کړه!؟

غل چې ښکاري یو ساده کوچی دی، په پښو یې سستي راځي، رېږدي... او په نیولي سا کاکه شیر ته وایي:

ـ هو ! ما د هغه دې له پاره غلا کوله، چې د خپل واده خرڅ مې ترڅ پوره کړم، د خپل واده نیمایي سودا مې هم کړې خو ظالم خسر مې نور هم غواړي او واده مې ځنډوي، نو دادی چې بله چاره راباندې حصره شوه او څنګه چې اوریدلي مې وچې ته ډېر دنیا دار، شتمن او معتبره زړګرېې نو ستا غلا ته مې ملا وتړله . . . خو زما ټولې هیلې او ارمانونه دې دادی را ته نیمه خوا کړل . . . ودې وژلم !!

د کوچي غله په دې خبرو کاکه غازي ته سخته پښیماني ورځي او د ځانه سره وایي: خومره بد وشول چې هغه مې په چړو وواهه . . . ښایي هغه ته په رښتیا هم بله چاره نه وه پاته. نو کوچي ته په عذر او زاریو شروع کوي او هغه د ځانه سره خپلې مهمانخانې ته بیایي، هلته ژر ورته دوا دور ته کوي او د هغه په ټپونو باندې پټۍ ږدي او په پټو هغه سره تړي. خو دومره یې زړه ډاډه کېږي چې کوچي په چړې کاري نه دی لګېدلی، ښایي چې ښه شي، نو ورته وایي:

ـ کاشکې چې ما ته دې له غلا کولو ړ ته ویلي

وای . . . کاشکې درباندئ خبر وای ، چېرته مې
دا مې کول ، خو راشه اوس هم خدای لوی دی
څه به شي !

له دې خبرو پس کاکه شېر د ستې شکسته کوډۍ
خپلې کوټې ته ځي او له یوې هغې وړې کڅوړې سره
چې پیسې پکې شرنګېدې بېرته راځي ، هغه د کوچي
ترمخې ږدي او ورته وایي :

- خیر دی وروره! تا به خدای څه کړي ، ژر به
څه شي ، خو زما دا اوس ټول شته همدا زر کابلي روپۍ
دي چې دادي نیمايي مې یې تاته راوړې، نو دا درواخله
او خپل واده پرې جوړ کړه !!

د پیسو په لیدلو او په تېره بیاد کاکه غازي ددې
نه تصور کېدونکي چلند په کتلو سره د کوچي ځوان
سترګې له ډېرې اریانتیا غټې له کاسو راوځي.
بیا نو هسې په ویښو لړلي راپا څېږي ، کاکه شېر په
غېږه کې نیسي او سترګې او بېره ږیره یې ښکلوي او
سانیولي ورته وایي :

- یره وروره ! که زه پښتون ناریښه دم ، نو ستا

دا لویه میړانه او مړسته به تر خپل مرګه هیره نه کړم بوازې دومره چې هیله کوم که خدای روغ کړم نو واده ته به مې ضرور راځې ... هرومرو !!

کاکه شیر د مجبور کوچي دا بلنه ومنی او بیا هسې چې خپل چلم را اخلی تازه کوی یې او څو دوده یې څکوی ، نو بیا په زړه کې څه ور ګرځی او کوچي ته وایی:

ـ خو ګوره ورور ! دا کوچي سلو خان خو به نه پېژنی!؟

ددې نامه په اوریدو سره کوچي بیار یا نتیا سره یووار بیا کاکه شیر ته برندي او غټې ګوری او شیبه پس ورته وایی :

ـ دا د تره خیلو سلوخان خو به نه یادوی . . . څې داد باد آسیاد غونډۍ تر خوایې میشې دی ؟

او کاکه شیر هم ورته په ډاډ اړې خوښۍ او ان څه حیرانتیا سره سر خوځوی :

ـ هو! هماغه سلوخان درته یادوم ، لکه چې پېژنې یې؟

کوچي سر خوځوی او په ډېر درداو خواشینی سره کاکه شیر ته وایی :

ـ سلو خان دې خدای په ګیله نه مړ وی ! هم هغه

خدای خوار نکړی زما خسر دی کنه چې دا هسې ناد ودو کواو ته یې مجبوره کړی یم که نه نو زه د خدای ساده کوچۍ چېرته او غلا چېرته ؟ ؟

ددی خبرو په اوریدو کاکه شیر څه نوی هیجان پر مخه اخلی، رنګ رنګېږي په رپېدو راځی او سره خوله یې د شا پر تخته ټې را ماتېږی. دا مې احساس کوی چې ګواکی هلته نه یې د زنځیری بیا هم چلم ته لاس اچوی او هسې چې اوږدې شېبې پر له پسې چلم څکوی او توخېږی، نو دا خبره یې زړه ته دربېږی چې آخر هم د سې، او کوچی لښته هم خدای ددې کوچی لایقه کړه ها؟ بیا د ځانه سره سوچ کوی چې که د لښتې وازه ته ولاړ شی نو بیا یې وکړای شی لښته دورو سره

ځل له پاره وویښی کاکه شیر کوچی پرې باسی چې یوه شېبه آرام وکړی، خو خوله ترملا آزاده پورې وبش کېښی، دا مې ګومان کوی چې ژوند اور وز ګار له هغه سره سختې توکې او نخرې راخستې دی.

سبا د لمر له راتو د یدو سره سم کوچې هم راپاڅی

او له دا کله‌شپېر سره سبا نارت کوی ، شور دغه پر تېهونو
پاندې په کور کې موجود مهم پړدی او هرتپ یې
ولېدل سره تړی په وینولړلی جامې تړې وهاسی او خپلې
یوه‌جوړه‌ښایسته جامې وړ. کوی چې وا یې غوندی. او کله
چې له کوچې سره له کړېدو پس داد پیدا کوی چې دغه
تللی شی، نو بیا هم ترې عذرغواړی ، پرسر او مخ یې
ښکلوی او رخصتوی یې او پخپله په‌ډیرې تلوسې دغې
ورځې دراتلو په انتظار پاته کیږی‌چې کوچی‌ځوان‌دی
خپل واده ته ور وغواړی .

***　　　***

د کوچیانو واده ، د دغو ی دود دستور ، هرڅه
کاله‌شپېر ته به زړه پورې خوږوڅه ناآشنا ښکاری ، دغه
همداڅو شپږې ستځلې په‌واده‌کې د برخې اخستو له‌پاره
را رسېدلی او دادی دغه کوچی له‌ښار ورور سره په
یوې ډلې اولړورې کیږدی کې‌چې دمخې پېښکه بې پرې
پورته کړی ، ناست دی .

دوه‌دری ځوانانو رته او به‌دوړدی راوړی ، اوچلم
اوتنبا کو ورته هم راوړی ، کوچی زوم همچی نوې جامې

ACKU

يې پرځان او ښکلې ښکري يې ترلي دە، هره ګړۍ اس يې وو ار
د کاکه شير کيږدې ته د هغه د در ناوي له پاره ورځي
او د هغه عزت او خدمت کو . تاکه شير يې د هغه دې له پاره
په بېلې او ګوښې کيږدې کې کينولی چې د ښاري ميلمه
قدر ته ورسيدلی شي . په داسې حال کې چې نور سړيان
او ميلمانه زياتره له کيږدې د باندې او يو ځه هم په نور و
کډو د يو کې سره يو ځای ناست دي .

ماښام کله چې د نور و سودن ډېر وسره په يو ځای
لوبې کيږدي … ناست وي ، له اصله د ښاري ميلمه
په راتلو خبر نه دی هم نه . خو هغه شيبه … څوک خبر دی
چې د هغه په زړه څه ګرځي او څه ورپې تيريږي ، کاکه شير
په دې اند … کې دی چې آيا هغه به ناوې ښه وليدلای
شي؟ ! او که نه د دې ورستی ديدن ارمان به يې هم په زړه
پاته شي . يوه شيبه چې د کوچي مشر ورور د څه کار له
پاره ځي ، نو کاکه شير هم خپل چلم تازه کوي او هغه
کوي هسې چې چلم څکوي د کوچيانو د واده په ننداري
سره څه شيبه خپل پام غلط کړي . هلته ورانديې دولو … –

د رمبیری او کوچیځوانان پداسې حال کې چې خپلې ملاوې بې ترلی او رنګار رنګ د ستما لو نه پهلاس کې لري ، په خورا جوش او مستی سره اتن کوي . هغې بلې خواد یګی با ندې دی ، له تغرېو ښځه غېږ غېږ لو ګی خیږ ي او د خر رو ا شتها پارونکې بوی خپر وي . په دې بلې خوا هم د کوچيانو د ښځو د چمبې وهلو سندرو او پدلو خوندورې انګازې په مزې مزې سره غوږ و نوته نوازش ور کوي . مشرانو میلمنو ته بې لوی لوی تغرو نه له کوږ د بوبهر اوار کړی او رنګا رنګ ایمخې بې د هغوی د ناستی له پاره غوړولی دی. ګڼ شمیر نور سپین ږیري او مشران هم په مخامخ دوو نو رو لوبو لوبو کیږد بو کې سره راټول شوی او یو شمیر تکړه ځلمی ځوانان د مشرانو او میلمنو چوپړ کوي . کاکه شیر ته د اهر څه هرڅه وی ښکاری ، هغه کله هم یخوا د کوچیانو واده نه وليدلی او ځکه نه هر څه ورته جالبه او په زړه پورې ایسې . پدې کې که ګوری چې دوه تنه کوچیا نې ښځی راځی او له یوه سپین ږیری سره له څه ویلو پس بیر ته ځی . ګوره

چې د دوی را تلګ څنګه یو ځل بیا کا که شېر ته لېښه
وریا دوی اویو ځل بیا د هغې د ژوندکی په لټانه درد
د شېر په زړه منګول لګوی . او چې کا که شېر له ډېره درده
بیا هم چلم را اخلی تازه کوی او لګوی بې، نو سم ورسره
کوچی زوم د هغه څخه راځي او هسې چې مخا مخ ورته
د دوو پښو په سر کېني ، په یو ډول عذر سره وایی :
ـ رو کېږه ! مونږ خو په دې واده کې داخپل کوچیانی دودونه
کوو کنه ... چې ستا زړه تنګ نشی .. . به د ې لمر
پریو تو کې سوړ دود لرو چې زوم له ټولو ناریینه وو
سره په زیارتو نو ګرځو ... ستاځې څنګه طبعه وی ... او
که نه ځې هم خوښه دې خپله ، زه وایم ځې ستړی نشې
زه به چا ته ووایم ځې ستاد پاره دلته پاتې شی .
خو کا که شېر چې فکر کوی په تن څه چې آن په
زړه ستوما نه دی ، نو د کوچی عذر کوی چې تاسې لاړشی
بس چې دا چلم را ته ایښی وی ... نو نور هیڅ هم نه
غواړم ستا سو دې زیارت قبول شی .
کوچی زوم هم ترې اجازت غواړی ، پاشیږی او ځی. لږه شیبه ورو
سته کا که شېر ګوری چې ټول ناریینه کوچیان د زوم په بدرګه

چې پر هو رنګا رنګه تو تو ، د سمالونو او څو ندیو ښا ندې په ښکلې شوی آس سپوردی، د زیارت په لور خوزیږی ، خویه دوه لس ښځلس کلن هلکان د کاکه شیر خدمت ته ګمارې. . . هغوی کاکه شیر ته داو داسه له پاره اوبه راوړی ، کاکه شیر اودس کولو ته ولاړ، شاوخوا یه نورو کیږدیو کې د کوچیانو ښځو سخت شور ماشور دی. څو که کاکه شیر پټ او ښکاره هرڅو سترګې اچوی مګر لیښته ، ناوې لیښته ، چې دادی د خپل بخت کور ته روانه ده ، نه موسی ، په کیږدی کې د لمانځه له دا دا کولو پس یو ځلمی ور ته خوږې او ګردې خبرې راوړی. څو هغه یې لاد کاکه شیر سخې ته نه وی ا ښې چې کومه ښځه هلکه ته نارې کوی، ځلمی ورځی او په منډه بیر ته راځی او کاکه شیر ته وایی :

ـ دلته د زوم څه شی هیر شوی دی ، ته کینه زه به په یوه منډه هغه ور ورسوم او ژر به بیرته راشم او کاکه شیر هم دا ور سره منی چې ښه ده ، لاړ شه .

او چې سم دادوه تنه ځلمی هم د لا ریښه وو پسې په منډو منډو روانیږی، له ښځو، له کوچیو ښځو سره د کاکه شیر یوازې

پاتې ته کېدل، هغه ته يوه بلااو څه عجيبه شان وېره او
انديښنه راپيدا کوي. مګر ه کوچيان هغه ډېر ګمان و نه کړي ؟
خوځان يې ډاډه کوه چې نه مر وسر ويو څو تنه تاريخه
خو به وي . . .

له دغه ځايه مخکې د غره ونو ډلې هو شاته پرېوتلې
خو هو الارو ښانه ده، په زړه پورې وړې او نرې باد
د ډېټو له خوا په کېږ ديوالکېږي، داوار کا نه شور د ډې
نوې انديښنې په بدر ګه چلم تازه کوي او څکوي يې.
خو ناځا په په ډېرې حېرانتيا او ان بودونو برې سره ګوري
چې د کېږدی د شا پېشکې پور ته کېږی او يوه کوچۍ ښځه
چې په يوه اوی ټيکری کې يې ځان نغاړلی وی، غلی د کا که
شېر کېږ دی ته ننه وځی . د کېږدی پېشکه بېر ته ښکته
کوی او هسې چې هغه کوی ښه ځان د کا ګه شېر تر شا پټه
کړی و رو په هغه غېږ کوی :
ـ زرګره لښته يم !.. ته د لته له کومه شوی ، ته
خدای له کومې دلته ر اوستی ها!؟ ساخوسه : ا په ش ېاد يدې
هسې د پير پا با نذر په غا ړه اخستی وخوداد ی پير باباسې

ACKU

ـسوالونه ... او ته بې پخپله راته راوستلی ... د پېرـ بابا د نامه نه مې قربان کړی ...

خو کاکه شېر د لبنتې په دې نابېره را تلو او ناڅاپي لېدو دا وسې ا وخطا کېږی چې هم ونفس يې په کوګل کې بند يږی.

ـ لبنتې ته دلته څه کوی !؟ له دې ځايه لاړه شه! ... ستا خوا ده دی ... خدای دې ښه کړی ... مبارك دې شه، خو د ر څه چې خوك دې دلته و نه وينی ..

خو لبنته يو ډول ساندوالي اووير په دلې پلو له مخې لرې کوی، د مخ بنګړه يې ان د کاکه شېر زړه روښانوی او له دې سره وايی:

ـ نه زرګره اواده خوزما د مشرې خور دی، که زه ځاوې وای نو چېرته داسې تر تاراتلی شوم ... خو ګوره زرګره! اوس چې پس له مودو مودو خدای ژوندی په لاس راکړی ... نو نو ر دې نه خوشې کوم. نه دې پرېږدم ... ما ننګ د ر ته را وړی زرګره!!

د لبنتې په خبر وله ټولو څمونو او اند يښنو سره د کاکه شېر په زړه کې يو نوی قوت او نا بللې خوشی

راغورځېږي، خو نه پوهېږي چې لښته څه غواړي؟ مګر لښته لکه داچې ډېره تلوسه او وېره لري نو کاکه شېر ته وايي:

- ګوره زر ګړه! ته مې ډېر خوښېږې، خو د ادې اوس چې تر تا پوري راغلم نو د پښتو او پښتونګ مې پر غاړه اخستې او له تا سره ځم... نو نور وخت نه تېروه، دا د دوه ملکان هم ما په خوشې بهانې په نارينه وو پسې ولېږل. نو را پاڅه چې ځو! ښځې د زوې نه راتاوېدي او زاو ستا مخه څوک نشي نولاى... خو چې څوك خبر نه شي.

او دلته دى چې شېر پخپل ټول ژوند کې له ډېر سخت او ډېر خطري امتحان، دا ښتې د مېنې له ډېر سخت آزمېښت سره مخامخ کېږي، آيا د پښتونو الي رعايت وکړي؟ آيا په ننګ او پت پسې وګرځي، آيا دود او دستور په نظر کې ونه نيسي او له نه دا ټول يوې خوا پرېږدي او د نې مرغرا ندې ښاپېرۍ د ټېکرۍ او پلوه غلې ته وګوري او څه پرځاى کړي، د هغې کوچۍ پېغلې هيله چې په همدې ګړي کې يې په ډېره مېړانه خپل سر هر کاکه شېر ايښى دى او هر څه يې پرځان منلي دي، خو لوى خطر و ننګ او درنه رسوايي د واړه ډېر نژدې وينې، لښته بيا هم په ډېرې

تلوسې او تلوار سره ور ته ګلکېږی :

- زرګره! زه به دې پلو او ټینګری در ته راغلې او در پاندې دریدلې یم... نو که ته مې به سودان پرېږدې... واك دې خپل دی، ته پوهېږې اوس چې تر تار اغلم نو او به له وړ خه وړوښې او که څوك پدې خبرې پوه شی، نو بې دې هم د اده اوسه بې ژوندی به مې پرې نه پږدی خو ما سر ګه هم ستاد پاره منظی دی. ..

کاکه شیر ته د ژوند په ره حماسه اوار پکر و نکې شوبه تر مخ کېږی ، دی پا په هم د لته د ژنګه ،پت رسوایی، ژوند او مرګ فیصله وکړی. خو هسې چې لښته لا هم ور ته کلکه وی، نو هغه شیبه سر ښکته اچوی او داسې ګڼی لکه چې چاغر و نه عزو نه بیتې د هغه په ا ور و ابښی وی او پدې کې خپله وروستی فیصله کوی ، نو لښتې ته وابی چې د آس تر خوا ځانو رسوی او پخپله هم ولاړېږی او خپل آس ښخه ورځی او به ډیری پرې پښه اړوی. کوچی

ښځې فکر کوی چې ښاری معلمه ځی، خو کاکه شیر لښتې ته
لاس ور غزوی، لښته هم په خپل ټول ژوند کې د لومړی ځل
له پاره خپل لاس د کاکه شیر په لاس ږدی او هغه له لاسه نیسی
او پر آس ور پورته کیږی کاکه شیر آس لمبه‌نوی، خو تر
هر چا مخکې څو تنه ماشومان هغوی وینی او شور پکت او
ناری سوری جوړوی :

- هلی چې لښته د معلمه سره لاړه!!.. هلی هلی چې ولاړل!!؟..
خو کاکه شیر لکه داچې یو ځل بیا د نوی ژوند انه تازه
ساه یې په غیږ کې چلیدلې وی، نو آس ته پونده ورکوی او
په دا سې حال کې چې د کوچه و بڅو سخت شور ، چیغې او ناری
فضا پر سر اخلی د کاکه شیر خیالی آس هم لکه باد سم الوزی
او هغوی په ډیری چټکۍ له هغې سیمې څخه پورې باسی.

ماښام نژدې او توري خړې وربځې خوا وزرونه غوړ ولی.
خو لا ډېره شېبه نه وه تېره، چې هغوی په هغه توري خړې
کې د کوچنیو څڅوله سترګو و رکېږی. لکه چې هغوی
په هغه خړې تیارې کې حل شوې وی ته به وایې چې لکه
د لیلي او مجنون په څېر ستوري شول او آسمان ته وختل او
یا هم ځمکې هغوی ته خپله ارته سینه پرانستله او هغوی
یې خپل کوګل ته ور کړل او بیا نو که هر څومره او وربځې خوا
د هغوی پسې لټه وشوه، هیچا هم د هغوی درک و نشو لګولای او
داشان کاکه شیر او لښته د تل له پاره په هغه توري
خړې کې تر تم شول. ډېر کلونه د هغوی کیسې خوله
په خوله ګرځیدې، تر څو چې هغه هم د کاکه غازي له
تولو مړا نو او هیوا د پالو نکو کار نامو سره یوځای
د خلکو، هرې شوی، د زمانو ګردا وخاور و هغه بیخي
و پوښلې او د خلکو له اذهانو او افکار وڅخه یې بلکل
پاکې کړی. (پای)

کابل - کلاچه - ۲۱/۲۲-۶-۱۳۶۸

ACKU

# سمون لیک

له هغې هڅې سره سره چې په دې اثر کې له طباعتي تېروتنو څخه د مخنيوي له پاره وشوې، د ماتو تاپ د ځانګې د حروفو د زړښت او خرابوالي له امله بيا هم يو لړ تېروتنې شوي، چې له ګټو لوستونکو څخه په ډېرې منښې هيله لرو، هغه د اثر له لوستلو مخکې جوړې او اصلاح کړي.

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ٦ | ١٨ | مقی ابل | مقابلي |
| ٨ | ١٧ | خوال | خوالی |
| ١٠ | ١٨ | کسه | کاکه |
| ١٢ | ١ | بې دوی | بې خوی |
| ١٣ | ١ | خرات | خرابات |
| ٢٩ | ٣ | قلا ی | قلمی |
| ٣٤ | ٦ | هوی | هوسی |



ACKU

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٥٣ | ١٥ | دد شدر | دشیر |
| ٢٩ | ٨ | امیري | دامیر |
| ٦٠ | ١٠ | خاوری | خاوريدي |
| ٧٥ | ٤ | لمبه | لمبته |
| ٨٣ | ١٢ | پاځیه‌و | پاڅیدو |
| ٨٧ | ٩ | له امله‌هم | له امله |
| ٩٣ | ٩ | ني | وني |
| ٩٦ | ١١ | کړ | کړی |
| ٩٦ | ١٥ | هم سي | سي‌هم |
| ٩٧ | ٣ | گ | رگ |
| ٩٨ | ٦ | ورستی | وروستی |
| ١٠١ | ١٨ | قه | قهر |
| ١٠٤ | ١ | می | ملی |
| ١٠٥ | ١١ | جلاآباد | جلال‌آباد |
| ١٠٨ | ٨ | تیام | قیام |
| ١١٤ | ١٨ | مینه‌و کد | مینو کې د |
| ١١٧ | ٢ | موصی | موسی |
| ١٢٣ | ١٣ | نه تصر | نه‌تصور |

| سم | ناسم | کرښه | مخ |
|---|---|---|---|
| کاکه شیر مره سپا ناری | اکه شیر مره سپا اری | ۱ | ۱۲۶ |
| کوی | کو | ۳ | ۱۲۷ |
| یوځای | وځای | ۷ | - |
| سره | ه | ۱۸ | - |
| نوی | وی | ۱۵ | ۱۲۸ |
| اندیښنه راپیدا | آدیښنه راپید | ۲ | ۱۳۱ |
| پیښکه | پیښکی | ۱۰ | - |
| ستا په‌تش بیا دیدن | اپه‌ش بیا دید | ۱۷ | - |
| داسیوارخطا | داوسی ارخطا | ۴ | ۱۳۲ |
| پوری راغلم | پوړری اغلم | ۴ | ۱۳۳ |
| او پښتنو | اوپښنو | ۴ | - |
| ناوی | ذوی | ۷ | - |
| غرونه | عزونه | ۱۲ | ۱۳۴ |
| وریورته | وریواته‌ر | ۴ | ۱۳۵ |

PROPERTY OF ACKU

ACKU



# دليكوال لنډه پېژندنه

مصطفى جهاد ليكوال، شاعر او ژورنا ليست دى .

دګلو ځولى په‌نامه دهيوادد موسيقى دهنر مندانو لومړنى تذكره (اول ټوك) اود (كوچيان او نوى ژوند) په نامه كتابونه يې‌چاپ شوى‌دى.

دګلو ځولى (دويم ټوك) د لنډيو ويشنه ،ميلمه پالنه په پښتنى فلكلور كې، دكار په باب دپښتنو عاميانه‌پرنسيبونه او دداستا نو نو مجمو عه، دشعر ونو او ادبى ټوټو مجموعه او دلنډو داستانونو دمخكښنو ليكوالو يو منتخب‌يې هم چاپ ته تيار دى.

جهاد دليكوالو دټولنى ،د ژور نا لستا نو د اتحاديې اودحقوق پوهانودټو- لنى غړيتوب لرى.

د هغه همدى رومان (د تخت‌غمى) په‌ديار لس سوم- اته شپيته‌كال دليكوالو دټولنى په كانكور كې لومړى جايزه ګټلې ده.

دولتي مطبعه